مورچل

نهم کال خلورمه، پرلپسې ۸۰ یمه، جمادي الثانية ۱۴۳۶هـ ق، اپریل ۲۰۱۵م

دیولادي عزم قوي جټکي ...

عزم مو متین دی

دا د ټپي سر دی...

تهاجم فکری و فرهنگی که...

په اسلام کې د خطر مدیریت

داتل شهید مولوي افتر محمد زاهد لنډ ژوند لیک

مورچل

نهم کال څلورمه ګڼه پرلپسې ۸۰ یمه جمادی الثانیه ۱۴۳۶ هق اپریل ۲۰۱۵ م

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حســن خېل
حســن زوی
زبیر مســافر
ایــوب صــافی
حکمت بغلانی
حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

ګڼه	مطلب	مخ
۱	دپولادي عزم قوي چټکې	۱
۲	دنامتومسلمان فاتحین	۳
۳	تهاجم فکری وفرهنگی که جامعه اسلامی ما ...	۷
۴	عزم مو متین دی	۹
۵	دثور کودتاه په افغانستان کی ...	۱۰
۶	دادپټي سردی	۱۳
۷	دلیکنی او لیکوالی علمی آرونه ...	۱۹
۸	کیمبیا او پکی دزړورتوب نه ...	۲۷
۹	قناعت چیست وقانع کیست ؟	۳۱
۱۰	جنګی جنایتونه (اپریل)	۳۶
۱۱	په اسلام کی دخطر مدیریت	۳۸
۱۲	انسان په سختیو کی پیژندل کیژي	۴۳
۱۳	دشهیدمولوی حکمت الله شاکر صاحب ...	۴۸
۱۴	داتل شهید مولوی اختر محمد ...	۵۱
۱۵	خبرونه.....	۵۷
۱۶	د مورچل وړمې.....	

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دپولادي عزم قوي جټکې.....

دافغانستان اسلامي امارت د۱۴۳۶ هق کال درجب المرجب په ۵مه، چې د۱۳۹۴ل کال دثور د۴مې اود ۲۰۱۵ زکال داپریل ۲۴ مې سره سمون خوري په ټول هېواد کې دعزم په نوم د پسرلنیو عملیاتو پیل اعلان کړ.

دخبري رسنیو په استناد: دعزم په نوم دپولادي ارادې او د اوسپنیز هوډ پیغام بښونکو مبارکو عملیاتو لومړی برید په یاده نیټه افغانستان کې دمیشت صلیبي اشغالګرو ځواکونو پر مرکزي هډه [بګرام هوایي ډګر] سهار پنځه بجې د تندریزې ملکوتي نارې(الله اکبر) په ویلو ترسره شو؛ په دې برید سره دهېواد ټول ولایتونه ،ولسوالۍ ،لویې لارې دامریکایي قواوو بیسونه، دګوډاکي رژیم قرار ګاوې، پوستې او پوځي هډې ددغو پسرلنیو عملیاتو ځوږونیول، په کومو کې چې دسلګونو خارجي او داخلي عکسرو په وژل کېدو سربیره لوی شمېر یې ټپیان هم شول.

داسلامي امارت دویندویانو [ذبیح الله مجاهد او قاري محمد یوسف] په وینا:دعزم عملیاتو په لومړۍ ورځ دهېواد په لرو بر کې دامریکایي ظالمانه اشغال پرضد د دښمن په مهمو جنګي مرکزونو ، پوځي غوڼدونو ،دفاعي پوستو او پلی کتارونوتردې دمه ۳۲۷ لوی او واړه بریدونه ترسره شوي، چې دښمن ته پکې دسر او مال له حساب او اټکل وتلي ځاني تلفات او مالي زیانونه اوښتي.

دمعمول له مخې اسلامي امارت هر کال دپسرلي په راتلو هېواد کې دامریکا یي صلیبي یرغلګرو په خلاف په نوي نوم؛ عملیات اعلانوي؛ چې په تېرو کلونو کې یې دنصرت، فتح، بدر او خالد په نومونو تاریخي عملیات دبېلګې په توګه یادولای شو، دکومو په ترڅ کې چې امریکایي ښکېلاکګر د دومره سترې ماتې اوشرمند شکست سره مخ شول، چې ټول کبر او غرور یې تر خاورو لاندې شو او د اوږد مهالي جګړې لګښتونو یې اقتصادته نه جبرانیدونکي زیانونه واړول.

دسیاسي اوپوځي کارپوهانو په اند: داسلامي امارت لخوا دروانو تندریزو عملیاتو توپانې سیلۍ دګوډاګي رژیم دواک ماڼۍ لړزولې او دصلیبي یرغلګرو ټولې شومې ارادې یې شنډې

اوخنسا کړي دي، بل پلو هغو تبليغاتو اوپروپاګند ته يې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ چې د ميډيا ډنډورچيانو ويل: [طالبان نور له جګړې ستړي شوي او داوړدي جګړې توان نلري] څرګنده شوه چې د اسلامي امارت مجاهدين يوائي په ځو ولايتونو يا سيمو کې نه بلکې د هېواد په ګوټ ګوټ کې ښه منظم، هدفمن اوپراخ بريدونه تنظيمولی شي!

هو! دپولادي عزم قوي جټکو وښوده، چې داسلامي امارت ننګيالیو مجاهدينو د پخوا په پر تله نوي جنګي تجربې عصري مهارتونه او تاکتيکونه ياد او ترلاسه کړي دي، چې دهغو نه په ګټه يې هېواد کې په ښمن دژوند کړی دومره تنګه کړېده چې له زيات ډاره يې د بزدلو جنرالانو او قومندانانو مورالونه پريوتي او حوصلې يې بايللې هغوی ددې لپاره چې دجګړې له روحې ډاره مصئون پاته وي خپل زيات وخت په شرابو او نشه يې توکو تېروي او کوښښ کوي چې ځانونه دجګړې له ډګره لرې وساتي، او په مقابل کې يې مجاهدين بيا ډېر لوړ مورال لري او ګام په ګام شانداړ فتحې او بريا وي ترلاسه کوي او دهېواد دازادۍ او استقلال په لور پخپلو پولادي ګامونو پر مخ روان دي.

په هېواد کې د روانو جهادي چارود کتونکو په وينا: دعزم په نوم عمليات په تېرو ځوارلسو کلونو کې بيساري مؤثر او هدفمند عمليات دي، چې د هېواد تر ګوټ ګوټ پورې غځول شوي او پرلپسې موفق او بريالي روان دي، دهغوی په اند: که مجاهدين په راتلونکي کې دعملياتو روان بهير همداسې ځپاند او روان وساتي، د شک پرته دهېواد په لرا وبر کې به پراخه ستراتيژک اهميت لرونکې سيمې داشغالګرو او ګوډاکي رژيم له شتون پاکې او داسلامي امارت تر بيرغ او سلطې لاندې راشي. چې ښکاره بيلګې يې تازه دهېواد په بېلابېلو ولايتونو کې دګنو ولسوالیو او سيمو ازادېدل اودمجاهدينو لاس ته دهغو ور تلل دي.

لنډه داچې دعزم دعملياتو روان بريالی چټک او پراخ بهير داجوتوي که خدای کول دافغانستان راتلونکی به روښانه اوبا ثباته راتلونکی وي، او افغان ولس به ډېر ژر خپله غصب شوې خاوره دصليبي دښمن له منګولو څخه ازاده کړي، دعزم بريالي عمليات چې له ځان سره دګران هېواد دازادۍ دمعنويت ډک الهام اوپيغام لیږدوي دافغانستان او افغان ولس دفکر، خاورې، عقيدې او ازادۍ په دښمن يې داسماني صاعقې رالوېدو په څېر تاثير کړی دی، او ټولې شرموونکي هڅې يې ورته دناکامۍ سره مواجه کړيدي چې په برکت به يې غاصب دښمن دخپلو ظالمانه کړنو او نه بښونکو جنايتونو تراخه وځکي او د کومو شومو شيطاني ارمانونو لپاره يې چې دوی په افغانستان ناروا يرغل کړی هم دلته د دوی سره يوځای ترخاورو لاندې شي ان شاء الله.

نامتو مسلمان فاتحین [۳]

[لومړی برخه]

د خراسان فاتح

عبدالله بن عامر رضی الله عنه

زوکړه : (4 – هـ 625 م مړینه : 59هـ 679 م)

یادونه: په تیرو ګڼو کې تاسو د کابل فاتح نامتوصحابي حضرت عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه پېژندنه ولوستله او دغه راز مو د بلخ او هرات فاتح نامتوتابعي حضرت احنف بن قیس رحمه الله پیژندنه هم ولوستله او دا ځل درته د ((خراسان)) د فاتح حضرت عبدالله بن عامر رضی الله عنه پیژندنه وړاندې کوو چې مخکني دواړه فاتحین د همدې ستر فاتح ترمشري لاندې یاد فتوحات ترسره کړي وو.

[۱] ـ پېژندنه

نوم یې عبدالله د عامر زوی او د کُرَیْزِ لمسی و او د حبیب کړوسی و ، پلار یې حضرت عامر رضی الله عنه هم صحابي و ، او د پیغمبرصلی الله علیه وسلم د خاله (حضرت بیضا رضی الله عنه عنها بنت عبدالمطلب) زوي کیده. نوموړي د مکې د فتحې په ورځ ایمان را وړی و. او پخپله حضرت ابن عامر رضی الله عنه د مسلمانانو د دریم خلیفه او نامتو صحابي حضرت عثمان رضی الله عنه د ماما زوی کېده

[۲]ـ زوکړه او ستره نیکمرغي :

ابن سعد رحمه الله وایي: حضرت عبدالله رضی الله عنه له هجرت وروسته زیږیدلی و او کله چې رسول صلی الله علیه وسلم د ((قضایي عمري)) د آداینې له پاره حرم شریف ته ورغلی و ؛ نو هغه مهال پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته را وړل شوی و. دغه مهال نوموړی دری کلن و او نبي صلی الله

علیه وسلم د خپل مبارک عادت سره سم ورته په خوله کې کجوره او خپلې مبارکې ناړې هم ورکړې وې.

حافظ ابن حجر رح لیکي : کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپلې مبارکې ناړې په خوله ورکړې ؛ نو نوموړي په کوچنیتوب کې هغه ژر ژر تیرولې نو هغه مهال رسول صلی الله علیه وسلم داسې وړاندوینه کړې وه چې :

((هذا ابننا و هو أشبهُكم بنا و هو مُسْقًى))[1]

ژباړه: ((دا زموږ زوی دی او موږ ته شوی دی او دی به اوبه ورکونکی (ساقي) وي))[2].

بیا هغسې شول چې نوموړي په لومړی ځل په عرفات کې د حاجیانو له پاره د څښاک د اوبو چاره وکړه او هغه داسې چې د حاجیانو له پاره یې د څښاک د پاکو اوبو ستر ډنډونه (حوضونه) جوړ کړل او ویالې یې هم ورته را وستلې . دغه راز به نوموړي چې کوم کوهی ویوست په هغه کې به خامخا اوبه راوتلې .۳ اودنوموړي په نامه په عرفات کې یوه ویاله مشهوره دهمده په نامه یادیدله[3]

[۳]ـ د صحابي توب ویاړ.

حضرت ابن عامر رضی الله عنه دا ستره نیکمرغي په برخه شوې وه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې په خپلو سترګو لیدلی و او کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفات کېده نو نوموړی دیارلس کلن و ، علامه ابن حبان رح دا خبره یې ثابته کړې ده چې نوموړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم لیدلی دی . له همدې امله نوموړی د لومړی ځل له پاره حافظ ابن منده رح په خپل کتاب دصحابه وو په کتار کې شمارلی دی اوله نوموړي وروسته امام ابن عبدالبر رح ، حافظ ابن حجر رح ، امام ابن اثیر رح او امام ذهبي رحمه الله یې په کشرانو صحابه وو کې شماري او د یوه کشر صحابي په توګه یې پېژندنه کوي[5].

---

۱ تهذیب التهذیب: ۵/ ۲۳۹.

۲ سیر اعلام النبلاء: ۳/ ۲۱.

۳ سیر اعلام النبلاء: ۳/ ۱۸ او د ابن عساکر د دمشق تاریخ : ۹ / ۲۲۹.

۴ تهذیب التهذیب: ۵توک ۲۳۹مخ.

۵ ددې مضمون په وروستنۍ لمن لیک دصحابه وو رضی الله عنهم په اړه لیکل شوي کتابونو کې دنوموړي پېژندنه وګورئ

[۴]ـ د حدیثو روایت:

حضرت عبدالله بن عامر رضی الله عنه د حدیثو روایتونه هم بالواسطه کړي دي ؛ حافظ ابن حجر لیکي: ((که څه هم حضرت عبدالله بن عامر له پیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی اودکوچنیتوب له امله یې زه ګومان نه کوم چې مخامخ دې حدیث له پیغمبرصلی الله علیه څخه اوریدلی وي))[۶]. حافظ ابن حجر رح او مام ذهبي رح هغه مشهور حدیث د نوموړي په روایاتو کې یادوي چې د محدثینو رح ترمنځ زیات شهرت هم لري او متن یې داسې دی:

((مَنْ قُتِلَ دونَ ماله فهو شهيدٌ.))[۷]

ژباړه: څوک چې د خپل مال په سر و وژل شي ، هغه شهید دی.

[۵] د بصرې او خراسان د والي په توګه

په ۲۹هجري کال کې نوموړي د حضرت عثمان رضی الله عنه له لوري د بصرې او خراسان د والي په توګه وټاکل شو او تر نوموړي دمخه د بصرې والي حضرت ابوموسي اشعري رضی الله عنه و او د فارس او خراسان والي حضرت عثمان بن العاص رضی الله عنه و.

نوموړي د حضرت عثمان رضی الله عنه له لوري د دغو دواړو ولایتونو مشري وسپارل شوه ، او ډیره عجیبه خبره داده چې په دغو ستونزمنو حالاتو کې چې کله د دغو دواړو ولایتونو مشري سپارل کېدله ؛ نو دغه مهال پنځه وبشت کلن ځوان و [۸].

حضرت عبدالله بن عامر رضی الله عنه کله چې بصرې ته راغی نو حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه وویل: ((زما پرځای تاسوته یو ښکلی او زړه سواند قریشي ځوان راغی چې پلرونه او نیکونه یې ښه خلک وو)).[۹]

---

[۶] تهذیب التهذیب: ۵توک ۲۳۹مخ.

[۷] د عبدالله بن عامر رضی الله عنه دغه روایت د حضرت حَنْظَلَةُ بنُ قَيْسٍ له لارې امام حاکم په المستدرک کې : ۳ / ۲۳۹ او امام بغوي ، امام طبرانی ،امام أبو نعیم او امام ابن عساکر رحمهم الله روایت کړی دی ، وګورئ : د امام سیوطي رحمه الله کتاب جمع الجوامع حدیث شمېره : (۲۰۴۸) لومړی توک ۲۳۹۵۰مخ.

۸ سیر اعلام النبلاء: ۳/ ۱۸ او الاعلام: ۱/ ۲۷۹ .

۹ الاصابه دریم توک: ۱۹مخ.

حضرت عبدالله بن عامر رضی الله عنه پرهمدې ولایت باندې د حضرت عثمان رضی الله عنه تر شهادت پورې پاتې شو ؛ خو کله چې هغه شهید شو ؛ نو حضرت معاویه رضی الله عنه له همدې ولایت څخه ګوښه کړ .

[۲] په بصره کې د نومیالیو صحابه وو رضی الله عنهم مېشتول

د حضرت عثمان رضی الله عنه له شهادت وروسته چې کله په مدینه منوره کې حالات خراب شول ؛ نو صحابه وو رضی الله عنهم شام ته دتګ اراده وکړه ؛ نوهغه مهال ابن عامر رضی الله عنه مدینې منورې ته ولاړ اومشرانو صحابه وو رضی الله عنهم ته یې داسې بلنه ورکړې وه : ((تاسو د شام پر ځای بصرې ته راشئ ، هلته شناخته او د کار خلک هم شته او دغه راز هلته زه د عوایدو ښې سرچینې هم لرم او دغه راز د بصرې اقتصاد د شام په پرتله ښه دی)) بیایې مشرانو صحابه وو رضی الله عنهم باندې نغدې روپۍ هم ووېشلې.

دنومورې دغه بلنه مشرانو صحابه وو رضی الله عنهم ومنله او د شام پر ځای بصرې ته له ده سره ولاړل. او په مشورو صحابه وو رضی الله عنهم کې حضرت طلحه رضی الله عنه او حضرت زبیر رضی الله عنه یادیږي او دوی خپلې کډې بصرې ته یوړې .

وروسته چې دبصرې حالات هم خراب شول ؛ نو دغه نامتو صحابه اړ شول چې بېرته شام ته کډې یوسې. اوپخپله حضرت ابن عامر رضی الله عنه هم شام ته کډه یو وړه. او د شام له والی حضرت معاویه رضی الله عنه سره یې ښې اړیکې وې او پرهغه دخپلې هوښیارتیا اوځیرکتیا له امله ډیر زیات ګران هم و .

[۳] ځانګړې او سترې کارنامې

الله پاک نومورې ته ښکلی ځانګړتیاوې ورکړې وې او ښکلی استعداد الله پاک ورباندې لورلې و و او په ځانګړې ډول د اداري په چلولو کې یې د ښه ځواک او وړتیاوو خاوند و . له همدې امله نامتو مسلمان مورخین د نومورې ستاینه کوي او لیکي چې: ((نومورې زړور او زړه سوانده واکمن او ښه لوروونکې زړه درلود اودغه راز زیات نرم او د لوېې سینې خاوند و)).[۱۰]

---

۱۰ د علامه ابن عساکر تاریخ دمشق: ۹ / ۲۲۹ وګورئ .

تهاجم فکری و فرهنگی که جامعه اسلامی ما را تهدید می کند!!

احمدضیاء رحیمزی

ازمدتی است که در یکی از بازار های لباس فروشی شهر نو کابل متوجه شده ام که گاه یک دختر و گاه هم بیش از یک دختر، با لباس غیرمعقول و با دردست داشتن پارچه های کاغذی که روی آن رایحه های مختلف عطور بازاری ثبت شده است، هر راهروی را متوجه خود ساخته و با تقدیم نمودن پارچه کاغذ مملو از عطر، آنان را ظاهراً به خریداری عطری که در دکانی در داخل مارکیت قرار دارد، تشویق می کنند.

ظاهر امر چنان می نماید که این دو سه دختر ایستاده در کنار جاده عمومی و در مقابل مزدحم ترین مارکیت های شهرنو کابل، برای فروش عطرهای دکاکین آن مارکیت ها، به جلب و جذب خریداران می پردازند.

همچنان در ظاهر امر فکر می شود که آنها برای رونق کسب و کار و یاهم جلب مشتری به شکل حق الزحمه یا مزد معینی این کار را انجام می دهند؛ ولی با توجه به وضعیت این جاده مزدحم شهرکابل و با اندک نگریستن به عکس العمل عابرینی که از این جاده مزدحم عبور می کنند و یا به دکاکین مربوط به همین مارکیت ها برای خریداری می آیند و با شنیدن الفاظ رکیک و خنده های نیش داری که عده ای از جوانان بی بند وبار تحویل این دختران می دهند، به یقین کامل می توان گفت که هیچ دختر باحیا و مرتبط به یک خانواده باشرفی با گزاف ترین مُزدکار، هم شاید حاضر نگردد این وظیفه ثقیل را انجام دهد!!

این که یک رُخ قضیه است، از جانب دیگر از مدت هاست که می شنوم که همزمان با لشکر کشی غربی ها به کشور جنگ زده افغان، مؤسسات ونهاد های در کابل و برخی از شهر های بزرگ کشور که اکثراً پروژه های بنام دفاع از حقوق زن را پیاده می کنند، فعالیت دارند و تنها وتنها برای این کار به عده ای از دختر خانم ها مُزد می دهند تا با آخرین مادل لباس های نیمه برهنه و فضاحت بار در گوشه و اکناف شهر های مذکور به گشت و گذار بپردازند و به این ترتیب از یک سو عده ای از دخترانی را که زودتر تحت تأثیر این گونه مُد و فیشن می روند، به پوشیش چنین لباس مزخرفی تشویق نمایند و به تعداد لشکریان شیطان بیافزایند و از سوی دیگر باعث ایجاد فتنه وفساد در بین جوانان این

جامعه گردیده، در کنار لشکری از رسانه های دیداری و شنیداری، آهسته آهسته جامعه را بسوی تباهی وبربادی سوق دهند.

زیاد به عقب نمی رویم، تنها در چند ماه اخیر، گشت و گذار پا برهنه خانمی به سبک غربی و بستن آهن آلات به بدن خود توسط دختر دیگری در جاده های غرب کابل و پس از آن هم بسرکردن چادری توسط چند مرد زن نما، بنام دفاع از دیموکراسی وحقوق زن، همراه با بازاریابان زنانه دکان های عطر فروشی شهر نو کابل، می تواند تا حد زیادی این تصویر ناخوشایند را در اذهان ما روشن سازد.

صفحات درخشان تاریخ کشور و ملت ما شاهد است که بیگانه گان در هر برهه زمان ولو هر قدر نیرومند و تادندان مسلح هم باشند، نتوانسته اند در مقابل اراده آزادی خواهی این ملت ایستاده گی نمایند، ولی با دریغ و درد باید گفت که این تهاجم فکری و فرهنگی این متجاوزین و دشمنان دین خداوند است که همیشه باعث شده تا صفوف نیرومند وبهم پیوسته مسلمانان در مقابل آن تاب مقاومت را از دست دهند.

با توجه به این همه مسایل است که هیچ گاهی ذهن قاصرم نمی تواند بپذیرد که این دو سه دختری که در شهرنو کابل، با در دست گرفتن پارچه های کاغذی مملو از عطر بپای خود اینجا آمده باشند و براستی هم برای رفع مشکل اقتصادی فامیل های شان، از این راه تلاش نمایند. و اگر واقعا اینها مستحق اند باید دولت در این زمینه اقدام نموده راههای آبرومندانه ای را برای کسب و کارشان برابر نماید.

به این ترتیب است که نباید خطر این تهاجم خشن فکری و فرهنگی برجامعه اسلامی مان را دست کم بگیریم و به هیچ وجه آنرا کمتر از تهاجم وسیع نظامی شمرد که هم اکنون روزانه ده ها بلکه صد ها فرزند این میهن را به قربانگاه می برد.

همچنان اگر در این رابطه منتظر اقدام حکومت بود و یا چشم امید بسوی آن دوخت، فکر نمی کنم بازهم ثمری بدست آورد، پس چه بهتر که قشر متدین و چیز فهم این جامعه که احساس مسؤولیت در مقابل دین خدا و مردم مسلمان خویش در وجود شان تا حال زنده است، راه وچاره یی برای این تهاجم بیاندیشند و در این راستا با یکدلی و یک پارچگی مسؤولیت دینی و ایمانی خود را ادا نمایند

دثور کودتا په افغانستان کې د غميزو اصلي لامل

دادی د افغانستان د اوسني عصر د سترې غميزې د پيل يعني د ۱۳۵۷ کال د غوايي له اوومې نېټې څخه پوره ۳۷ د هرش کاله تير شول په دغه وخ يو شمېر په کمونستي بلاک پورې تړلو او په لينني فلسفه سېمال په اصطلاح افغانانو چې د خلق او پرچم په ګوندو کې سره راغوند شوي وو د افغانستان د قانوني نظام په وړاندې بغاوت وکړو او په افغانستان کې يې د بدمرغيو لړۍ پيل کړه.

د افغانستان د وروستيو لسيزو تاريخ دغم او ويرې پېښې په ځان کې نغښتې چې راتلونکی نسل ته به د هېر دردونکې او عجيبې وې، لکه مور چې په خپل پخواني تاريخ کې د چنګېزد يرغل او په هغه وخت کې د خپل هيواد د خلکو حالت تصور کړو نو اوسنی تاريخ مو هم له هغه څخه بدتر دی. که چېرې خپل هغه يونيم ميليون بېګناه هېوادوال چې څه يې په زندانونو او څه يې په کورنو او کليو کې شهيدان شوي، که چېرې خپل پنځه ميليونه مهاجر هيوادوال چې په زور له خپل ټاټوبي نه ايستلو ته اړشوي وو ، او په لکونو خپل معيوب او ټپي وروڼه او خويندې راپه ياد کړو نو وينو چې ټول د هغو کمونستانو ديوې لوبې او کړنې د پايلې له کبله رامنځته شوي چې د غوايي د مياشتې په اوومه يې د افغانستان کرار او مخ پروده حالت ته د بدلون تر څنګ د غمونو ټغر پرهېواد خور کړ.

که چېرې د روسانو يرغل ته نظر واچوو چې اووه کاله يې زمور پر خلکو چپه مېچنې وچلولې نو هغه هم د همدغو دثور داوومې د عاملينو د کړنو اوبلنو پايله وه چې زمور پر خلکو يې تحميل کړه او که چېرې هم د خپلو خلکو په تېره بيا د کابل د خلکو ماتمونه د مجاهدينو له بری نه وروسته راپه ياد کړو نو اصلی سرچينه يې بيا هم په همغه کمونستانو او د غوايي داوومې نېټې په عاملينو کې وينو چې د پردی عقبدې په خپلولو سره يې خپله لږ ګټه زمور د خلکو او هېواد په غټ تاوان کې ليدله.

څېنې وخت د غوايې د اوومې نېټې اصلي عاملين يعنې د خلق او پرچم ګوند غړي دافغانستان غمېزې پر مجاهدينو يا عام اولس وراچوي او وايې چې موږ دې وطن ته سوله او پرمختګ راوړ خو نورو پرې نه ښودو ، کله هم دخپل برأت لپاره وايې که موږ يوازې روس راوستلې ؤ نو مجاهدينو دادی ۴۲ ملکونه راوستل که حقيقت ته ځير شو نو د وروستيو ټولو پېښو عاملين همدوی دی او دا شپږ ځلوېښت ملکونه هم ددوی د ناوړه کړو وړو له لاسه راغلي.

کله چې روسان له افغانستان نه ووتل او خلق او پرچم يې يواځې پرېښودل او په خپلو مادي مرستو سره يې ددوی ملاتړ ته دوام ورکړ نو دخلکو د پاڅون او جهاد له املـه د دوی ګوډاګي خلقيان او پرچميان نور ټينګېدلای نه شوای نو همغـه وو چې دوی ته ور وېښودل شول چې د پلار وطنـه ملـي جبهـه جـوړه کـړي ، لويـه جرګـه راوغـواړي ، دقبـايلو جرګـه دې جـوړه کـړي، يوشمېرزندانيان دې خوشې کړي اودملي مصالحې پروسه دې اعلان کړي ... چې يوه کړنه يې هم بريالی نه شوه اودافغانستان په دولتی واک کې يې دکمونستی ګوند دغړو دګډون ادامـه نه تضمينوله او ماتې يې حتمی ګڼل کېده ، نو هغه ؤ چې دافغانستان دخلک دموکراتيک ګوند غړو داځل دخپلو بهرنيو واکدارانو پـه هدايت ځانونـه پـه قومي رنګ ورنګول او دمجاهدينو لـه تنظيمونو سره يې دقومی عصبيت له اړخه اړيکې ټينګې کړې او په دې لړ کې بهرنيانو چی په دې وخت کې لويديزو او ختيزو بنکېلاګرو دمجاهدينو د خواک او پوځي تجربې نه کلک په ډار شوي وو نو په خپله اشاره يې له قومی نژاکتونو نه په ګټه اخستنه افغانی کمونست پلوه ډلې د مجاهيدينو په تنظيمونو کې ورګډې کړې .

ددغه ګوند دپرچم ډله يې دکارمل په مشری له تاجکو مجاهدينو سره دګلم جم ډله يې د ازبکو مجاهدينو سره ، دکشتمند او ورپورې اړوند پوځی مليشه ډله يې دهزاره وو له تنظيمونو سره او دخلق او جنرال رفيع او جبار ډله يې دپښتنو ميشتو سيمو له مجاهيدينو سره يوځای کړل ، خو دوی له مخکې دستور په دې اړوند درلود او دنړېوالو اړونده جاسوسی او سياسی شبکو له لاری ورته په دې اړوند دستور ورکړل شوی ؤ. په دې ګډېدو سره دوی دوه ګټې وکړې يو داچې مجاهدين يې بدنامه کړل بل يې ځان له هغې محاکمې وژغوره چې کيدای شوای ورسره مخ شوي وای.

دوی دمجاهدينو له ډلو سره په ګډېدو قومي او تنظيمي جګړو ته لمن ووهله خپله وسله او مهمات يې هم ډلو په واک کې ورکړل او مجاهدين يې چې پخوا يې نه دولتي تجربه درلوده او نه هم په سياسي او قومي لوبو کې روږدي وو سره وجنګول.

جګړې هم په داسې پلاني توګه سره ترتيب شوې وې چې حتمی ګڼل کېدې، هغه داسې چې مجاهيدين به يا له واک نه تېرېدل او خپل پخواني زيارونه به يې عبث تلل يا به هم په خپل مېنځ

کې سره په جګړه اخته کېدل چې له بده مرغه دوهمه نخشه يې بريالی شوه او په دې ډول کمونستان له خپلې ستړې ماتې وروسته بياهم له مجاهدينو او دافغانستان له خلکو سره په دې توګه وجنګېدل او هغوی يې نورهم دغم په ټغر کېنول خو داځل ددوی جګړه بريالی وه نه يوائې يې مجاهدين بدنامه کړل بلکې دخپل خلاصون زمينه يې هم برابره کړه.

دوی په دې هم بسنه ونه کړه يو شمېر ډلې يې له نړۍ ګاونډي هيواد سره په استخباراتي کارکې ورګډې شوې او دمجاهدينو دځای ناستي نظام لپاره يې کار وکړ.

خو کله چې دوی افشأ شول او نظام ددوی په خوښه کارونه ونه کړل نو په نورو دسيسو يې لاس پورې کړ چې دټولو ته روښانه دي او بيان يې خيره ډېره اوږدوي.

لنډه داچې که دافغانستان دخلک دموکراتيک ګوند په افغانستان کې کودتاه نه وای کړې، د افغانستان قانوني جمهور رييس يې نه وای شهيد کړی، يا وروسته له واک نه يې خپله کمونستی مفکوره پرخلکو نه وای تپلې او دخلکو په وژلو، زنداني کولو او خورولو يې لاس نه وای پورې کړی نو کله به هم دغه دوروستيو کلونو غميزې دافغانستان پرخلکو نه وای راغلې. ترټولو بدتر لا دا چې اوس هم لايو شمېر له دغو افرادو اوکړيو څخه داسې مېراث خواره پاتې دي چې له خپلو کړنو او مفکورې نه دي پښېمانه اوس هم له هغو اړيکو اوتجربو څخه چې لري يې غواړي دافغانستان دغميزو لړۍ اوږده کړي او دخپلو ځانګړو موخو لپاره چې اوس يې هم دحاميانو اوهم دګټو رنګ بدل شوي ځان ورسوي.

د ثور کودتاه عاملينو او پلويانو ته يې سره له دې چې بنه پوره سزا ورکړ شوې هم ده او ترټولو غټه يې دملت نفرين دی چې ورسره مخامخ دي او ددوي وجدانونه به دژوند تر پايه وزوروي خو شکر چې مورږ مسلمان هم يو او پردې باور يو چې دهرې کړنې سزا به راکول کيږي او داسې ورځ راتلونکې ده چې د هرڅه محاسبه به کيږي، په هغه ځای کې به بيا جعل او تزوير نه چليږي حيلې به نه چليږي اوهم که اوس دوی په دنيا کې هرڅومره ځان سپېڅلي وبولي او دخپل بام واوری په نورو وروا چوي خو د تاريخ پانې به دروغ ونه مني او حقيقت به ضرور څرګند يږي.

په دې هيله چې نور دافغان ولس وګړي دپردیو عقيدې په خپلو لو سره پرځان او زمورږ دهېواد په خلکو هغه څه ونه تپي چې دوی ته دمختورو الی او ابدی بدنامی او عذاب او نوروته دستونزو او غمونولامل شي

تېره اونۍ اسلامي امارت اعلان وکړ چې دجمعې له ورځې به په ټول هیواد کې دعزم په نوم پسرلني عملیات پیلوي، د طالبانو دې اعلان ته دکابل اداري د محض تبلیغاتو نوم ورکړ. خو د چارو شنونکي په دې باور وو، چې طالبان به د پخوا په شان دخپل معمول سره سم دعزم عملیاتو ته دعمل جامه ور اغوندي

دجمعې ورځ شوه، دهیواد د ختیځ او لویدیځ، شمال او جنوب له مختلفو ولایتونو څخه راپورونه خپاره شول، چې طالبانو دیرغلګرو ځواکونو پر اډو، دولسوالیو پر مرکزونو، داردو، پولیسو او اربکیانو په بیسونو، پوستو او ګزمو پراخ بریدونه ترسره کړې چې په پایله کې یې ډیري سیمې ولکه کړې، شوبلي، رینجرونه، توپونه، او ګڼ شمېر سپکي وسلې او مهمات یې غنیمت کړي دي.

تر اوسه چې دعزم عملیاتو شپږ ورځې تېرې شوي مجاهدینو په کندوز، بغلان، بدخشان، سرپل، فاریاب، فراه، هلمند، زابل، غزني، کاپیسا، کونړ، ننګرهار، ارزګان، بلخ او..... ولایتونو کې پراخې سیمې فتح کړې، بیساري

بریاوي یې ترلاسه کړې او دښمن یې دانتهایې مایوسۍ او شرمندګۍ سره مخ کړی دی.

کندوز:

یو له هغو ولایتونو څخه چې دښمن ډیر پکې ځپل شوی دکندوز مجاهد پروره خاوره ده، له تېرو شپږ ورځو راهیسې دکندوز ولایت په مرکز او شپږو ولسوالیو کې دمجاهدینو بریدونه په عالي مورال او تینګ عزم سره ادامه لري، دکندوز د شپږ ورځنۍ جګړې د موثقو راپورونو په اساس په دغه جګړه کې د اسلامي امارت قهرمانو مجاهدینو دکندوز مرکز ته څېرمه دګورتېپې او تیلاوکه سیمې چې خورا ستراتیژیک اهمیت لري په بشپړه توګه نیولې او دمرکز په دوه کلیو متری کې

مجاهدین قرار لري، او د دغه ولایت په شپږو ولسوالیو کې یې ۲۵ پوسټې نیولې او ۴۱ کلي یې داربکې ملبشو له وجود څخه پاک کړي دي

په دغه جګړه کې د کابل اداري ۲۹۵ تنه داردو، پولیسو او اربکیانو کرایې جګړه مارانو وژل شوي، ۱۴۲ تنه ژوبل شوي او ۵۸ تنه ژوندي نیول شوي دي، همدا راز په دې جګړه کې د دښمن ۲۰ عرادې ټانګونه او ۱۳ عرادې رینجر ویجاړ شوي دي.

مجاهدینو ته په یاده شوې جګړه کې د ډارن دښمن ۱۲ عرادې شوبلې او رینجر او تر ۱۰۰ میله زیاته وسله د غنیمت په ډول په لاس ورغلې ده.

همدا رنګه په دغه جګړه کې ۹ تنه مجاهدین شهیدان شوي او ۱۰ تنه ژوبل شوي دي.

فراه :

د فراه ولایت په بالا بلوک ولسوالۍ کې د عزم عملیاتو له پیل سره دیادي شوي ولسوالۍ په ودانۍ او دفاعي پوستو، ګراني، ګنج اباد او شیوان سیمو کې د مجاهدینو او اجیر دښمن ترمنځ ننبتي روانې وې، چې بالاخره تېره شپه له سیمې څخه د دښمن په تیښته دغه جګړه پای ته ورسیده، د بالا بلوک په جګړه کې د کابل اداري د نظم عامه، اردو او کوماندویې باندې ۹۷ تنه مزدور عسکر مړه او ژوبل شوي، ګڼ شمېر نقلیه وسایط یې تخریب شوي او په لسهاوو میله سپکه وسله مجاهدینو غنیمت کړې ده. همدا راز په ګلستان او پشترود ولسوالیو کې هم مجاهدینو د دښمن ګڼې پوستې فتح کړې او دښمن یې د ځاني او مالي زیانونو سره مواجه کړی دی.

فاریاب :

د فاریاب ولایت د چهلګزي ولسوالۍ په کاریز سیمه کې د دښمن سره د څلور ورځنۍ جګړې په جریان کې دښمن له درنو تلفاتو سره مخ شو، ۱۴ تنه عسکر یې مړه او ټپیان شول او د قوماندان عبیدالله په مشري ۱۲ تنه عسکر د مجاهدینو سره یوځای شول، د جګړې په ترڅ کې مجاهدینو ۴ پوسټې نیولې او یاده شوې سیمه یې فتح کړې ده، دلته هم جګړه له سیمې څخه د دښمن په تیښته پای ته ورسیده.

بدخشان :

د بدخشان ولایت د جرم ولسوالۍ په فرغامنج سیمه کې له څو روځو راهیسې د دښمن د له لاسه وتلو سیمو د بیرته نیولو په موخه پراخ تعرضي برید ونه پیل کړي وو، په دې جګړه کې د ځایې عسکرو ترڅنګ له کابل او نورو ولایتونو څخه راغلي کومکي عسکر هم شریک وو، د دښمن دلته هم د هیواد د نورو سیمو په څېر له ډیرو ځاني تلفاتو سره مخ شو، دوې چورلکې یې نسکوري شوې او مختلف وسایل یې داور خوراک شول، د دوی د شوبلو، زغره والو ګاډو، توپچي قواوو او هوایې ځواک په مټ د دومره غړه وو چې د جرم د بیا نیولو خیالونه یې په سر کې ګرځیدل، خو

سر سپارلو مجاهدینو دالله تعالی په نصرت ددښمن مجهز لښکر پر شا وځغلاوه او د دشمن هیلي او ارمانونه یې له خاورو سره خاوري کړل.

هلمند:

دهلمند مرکز لښکرګاه اړوند په خوشکاوه اود ګریشک په نهر سراج کي مجاهدینو ددښمن ۴ تعرضي برید ونه پر شا تمبولي، ۵ شوبلي یې ویجاړي کړي او دښمن ته یې دسر پراخ زیان رسولی دی، وروسته دښمن پر سیمه هاوانونه اورولي چې له املې ۲ تنه ولسي وګړي دښځو اوماشومانو په شمول شهیدان شوي دي. په موسي کلا ولسوالي کي مجاهدینو اجیر دښمن ته سخته ضربه ورکړې اود ولسوالي مقر ته نژدې له خورا ستراتیژیکي نقطې څخه یې د کابل اداري کرایې عسکر شړلي دي. همدا رنګه سر سامه دښمن دګریشک ولسوالي په نورو سیمو کي هم عملیات اعلان کړي خو په عمل کي هیڅ لاسته راوړنه نه لري.

بغلان:

دبغلان ولایت په مرکزي بغلان ولسوالي کي مجاهدینو دګوډاګیو عسکرو سره دنښتو په پایله کي دیادي شوي ولسوالي اړوند ۷ کلي فتح کړي، ۱۳ تنه عسکر په دغه جګړه کي وژل شوي او ۸ تنه ژوبل شوي دي.

غزني:

دغزني ولایت په دیک، شلګر او مقر ولسوالیو کي مجاهدینو دښمن ته سخت ټکانونه ورکړي، تعرضي حملې یې پر شا تمبول شوي اوله سیمي په تیښته وتلي دي، له یادو شوو سیمو څخه یوازي دمقر په ګدایخیلو، ستار خیل او انعام خیل سیمو کي ددښمن ۴ عرادې ټانګونه ویجاړ شوي او پکي سپرو عسکرو ته یې غوښنه مرګ ژوبله اوښتې ده.

ارزګان:

دارزګان ولایت په بیلابیلو ولسوالیو کي دمجاهدینو په برید ونو کي د مزدور دښمن ګڼ قوماندان او افراد له منځه تللي دي، چې له دې جملې څخه یو هم دارزګان ولایت سرپرست امنیه قوماندان ؤ چې ددوو تنو نفوذي مجاهدینو له خوا په خپله سزا ورسید.

ننګرهار:

ننګرهار هم یو له هغو ولایتونو څخه ؤ چې په تېرو څو ورځو کي پکي دښمن ته دسر او مال درانه زیانونه واوښتل، ددې ولایت په بیلابیلو ولسوالیو کي دښمن تر اور لاندي ونیول شو، دمجاهدینو کارنده ګوزارونو پوستې پرې تخلیه کړې، او د ښمن د یو عالم بزدلیو او مایوسیو سره خپلو قرارګاوو ته پناه یو وړل.

زابل:

دزابل ولایت په ارغنداب، شاجوي او دمرکز قلات اړوند سیمو کي ددښمن پرله

پسې حملې دمجاهدینو دسخت مقاومت له امله شنډې شوې، کرایې عسکرو نه یوازې داچې په ذکر شوو سیمو کې پرمختګ نه دی کړې، بلکې له خونړیو پایلو سره مخ شوې دي، دلته دکندهار دامنیه قوماندان رازق مرستیال(اسد) دګنو جنایتکارو ملګرو سره مغروره ککړی وخوړه او هیوادوال یې له شره خلاص شول.

کونړ:

دکونړ ولایت په مختلفو ولسوالیو کې داتلو مجاهدینو دکلک عزم له امله دښمن له سختو تګونو سره مخ شو، بیسونه یې تر شدیدو حملو لاندې ونیول شول، پوستې یې پرښودې، ګزمې یې تر اورلاندې ونیول شوې، شوبلې یې وسوځیدې، رینجر یې ایرې شول او ګنو اجیرو عسکرو دامریکایې ګټو په خاطر خپل سرونه بایللول.

دعزم عملیاتو اعلان او پریکنده پیل نړیوالو ته داسلامي امارت دقول او عمل د توافق هغه روښانه رښتونې مظهر دی چې دښمن یې په خپل پروپاګند سره نه شي پیکه کولای، دعزم عملیاتو په وړاندې دښمن تبلیغاتو ته خورا زور ورکړی، کله وایې له شمالي وزیرستان او نورو بهرنیو وطنونو څخه جنګیالي راغلي او جګړې یې شروع کړې، خو ولس دکابل اداړې په قصرونو کې دمحاصره شوو ستو په ښکرورو دروغو پورې خاندي، ځکه داځرنګه بهرني جنګیالي دې چې دهیواد په لرا او برکې یې داسې جګړې پیل کړې، چې دوی یې داشغالګرو په هوایې او مځکنې ملاتړ او داردو، پولیسو او اربکې ملبشو په سلهاوو زره جګړه مارو او لوټمارو سره نه شي قابو کولای.

دمجاهدینو پرمختګونو دښمن د خورا زیات روانې او فکرې کشمکش سره مواجه کړی دی، دفاع وزارت او ولایتي منسوبین یې دیوې پیښې په اړه ضد ونقیض دعواوي کوي، دښمن مرکزي واحده رهبري نه لري، دښمن دمجاهدینو سره دمخامخ جګړې پر ځای میډیایې افواهاتو ته ترجیح ورکړې، دوی خپلو مورال بایللو عسکرو ته په دروغو ډاډ ورکوي چې فلان فلان سیمې یې بیرته نیولې دومره او هومره جنګیالي یې وژلي او نیولي، خو دواقعیت په میدان کې یې ټولې ادعاګاني سوچه دروغ دي.

داسلامي امارت سر سپارلو مجاهدینو د عزم عملیاتو په پیلیدو سره یرغلګر او داخلي دښمن ته یو وار بیاثابته کړه، چې دافغانستان په پاکه خاوره کې دارام اوسیدلو چانس نه لري، دوی که خپلې ناروا جګړې ته هر پرتوګ ورغوندي، خو افغان مجاهد ولس پوهیږي چې همدا نیواکګر او داخلي ګوداګیان یې ددین، وطن، ناموس، ارزښتونو او شتمنیو قسم خوړلي دښمنان دي.

د کابل اداړې کرایې جګړه مار اوس هم چانس لري چې داسلام او هیواد له دښمنی

څخه لاس واخلي او د اسلامي امارت د مجاهدينو سره يوځای شي، امارت دعزم عملياتو په اعلاميه کي دمزدور رژيم لوړ پورو او ټيټ پورو منسوبينو ته ټټر وهلی چي دولس سره يوځای کيده يې دارام او عزتمن ژوند تضمين کولای شي.

د کابل اداري منسوبينو ! که تاسي نور هم دامريکايي کتولپاره دمجاهدينو سره جګړه کوئ او دغلامي ژوند ته پر ازاد ژوند ترجيح ورکوئ ، نودقهرمانو مجاهدينو پولادي ګوزارونو ته ټينګ شئ، داچي دعزم عملياتو پيل مو چيغي پورته کړي، څه فکر کوئ ددې مبارکو عملياتوجريان او پای به مود متبوع رژيم خونه درورانه کړي ؟.

هو !

دا دپتي سر دی، پتی وروسته سوروردی

که د شکر له اوچتوالی ګړیږئ؛ دغه خواړه مه هیروئ

په نړۍ کې اوس شکر د يوې عامې ناروغۍ په توګه پيژندل کيږي او په ميليونونه کسان په دغه ناروغۍ اخته دي.

په دې وروستيو کې امريکايي روغتيايي څېړونکو ثابته کړې چې ډيرد اسې طبيعي خواړه شتون لري کوم چې کولی شي په وينه کې د شکر اندازه کنټرول کړي د شکر ناروغان کولی شي په لږ لګښت او طبيعي طريقې سره خپل شکر کنټرول کړي.

په امريکا کې شوې دغې څېړنې پر بنسټ د شکر ناروغان کولی شي خپل ورځنی خواړه کې لږ مثبت بدلون راوستلو سره خپل د وينې شکر کنټرول کړي. که غواړئ د خوږو په انتخاب کې ازاد اوسئ او روغ ژوند ولرئ نو لاندې خواړه خپل ورځنی ژوند کې مه هيروئ.

۱ -فايبر (Fiber) لروونکي خواړه: دغه خواړه په وينه کې د ګلوکوز جذبولو عمليه بطي کوي. په ورځنۍ ډول د سابه او ناک استعمال د شکر ناروغانو لپاره ډير زيات ګټور دی. فايبر يو ډول ګټور مواد دی چې ډيرو ناروغيو لپاره غوره او طبيعي درمل ګڼل کيږي او په څېنې خواړه لکه جوار، سپينه لوبيا، توره لوبيا، سره لوبيا، نخود، اووکادو (Avocado) نومې ميوه، مټر او څينو نورو کې په زياته اندازه شتون لري.

۲ -کروميم (Chromium) نومې فلزي عنصر. دغه عنصر په څېنې خواړه لکه باراکولي، پنير (پوخه)، شنه لوبيا يا مټر کې په زياته اندازه پيدا کيږي. د دغو خوږو استعمال په وينه کې د ګلوکوز اندازه نورماله ساتي. په پورتنيو خوږو کې باراکولي د کروميم تر ټولو غوره او ستره منبع ده.

۳ -کبان په کبانو کې شته اومیګا ۳ (Omega-۳) نومې مواد په وينه کې د ګلوکوز اثر له منځه وړي او په دې ډول د وينې د شکر اندازه نورماله ساتلو کې مرسته کوي.

د لیکنې او لیکوالۍ علمي آرونه او معیارونه

دوهمه برخه

لیکوال: شمس... منصور

دمحارواتو استعمال

محاوره په لغت کې خبرو ته وايي، اوپه اصطلاح کې دهغو خاصو خبرونوم دی، چې الفاظ يې په حقيقي معنی کې نه وي کاريدلي، دمثال په توګه: ډوډی خوړل – قسم خوړل واخلئ! دلته په لومړۍ جمله کې د خوړو لفظ په حقيقي معنی کې استعمال شوی، او په دوهمه جمله کې ندی استعمال! دا دوهمه جمله محاوره ده!

دمحاورې په اړه داخبره په يادلرل پکارده، چې په الفاظو کې تغير او بدلون نشي راتلای، کنه بيا به محاوره راوړل پرځای نه وي! لکه دفارسې مشهوره محاوره [آب ودانه...] دا – د متکلم ،مخاطب، غايب، ماضي، حال اومستقبل په هره صيغه کې کارول کېدای شي، خو په الفاظو کې يې تغير نشي راتلی، دآب ودانه په ځای –آب وچاره نشي ويلی... بلکې الفاظ يې چې څنګه دي، هم هغسي به راوړل کېږي، دپښتو څو مشهورې محاورې دادې:

...اوړو کې دمالګې اومره... يعنې ډېر لږ... لکه : په افغانستان کې دهندوانو شمېر په اوړو کې دمالګې اومره ندی...

اسمان سره خبرې... يعنې لويې اوغرور کول... ديو چا دکبر او غرور پرمهال ويل کېږي، چې فلانی... خو د اسمان سره خبرې کوي...

دسترګوتور... يعنې ډېر ګران... اجمل دهر چا دسترګوتوردی، يعنې هرسړی ورسره مينه کوي...

نن بازار ر سوړدی... يعنې بازار دومره خراب دی چې داخستلو پوښتنه څوک نکوي...

زړه مې مات دی... مايوس اونهېلی يم..يا : زړه چې مات شي بيا کله جوړيږي...

ضرب الامثال(متلونه)

هر کله چې يوه واقعه، په بيا بيا تجربه شي او له مشاهدې تېره شي، دهغو تجربو او ليدنو لنډيز وراندې کولو لپاره څو الفاظ او جملې کارول کېږي، بيا هغه الفاظ يا جملې چې کله تراوږدې مودې پر خاصو ځايونو کې کارول دود شي او دوخت په تېريدو دخپلو لفظي معنا ګانو پر ځای بله معنی غوره کړي، ورته ضرب المثل (متل) ويلی کېږي، ضرب المثل عموماً دخپلې خبرې دقوت او مؤثره ګرځولو لپاره راوړل کېږي.

متلونه په عامه توګه زېږې او په کې دپېړيو، پوهه، عقل اودبشريت تجربې اومشاهدې ګډې وي، دځينو متلونو شاليد يوه نه يوه داسې کيسه وي، چې هغه له خلکونه هېره وي.

دشيخ سعدی دکتاب ډېرې جملې او مسری ضرب الامثال ګرځيدلي، دنورو پخوانيو متلونو جوړونکي مونږ نه پيژنو، چې چا جوړ کړي دي؟ليکن هرځوک که هغه عام خلک دي او يا خواص ټول يې استعمالوي. خوپه دې نه پوهېږي چې فلاني، متل يا مسری دکوم شاعر ده؟

د ضرب المثل اومحاورې توپير:

دمحاورې او ضرب المثل په منځ کې توپير دادی، چې کله محاوره دکلام نه جز شي په هغه کې جذب شي !دهغې پرته کلام ناقص او نيمګړی وي، او ضرب المثل داسې ندی، که هغه د جملې څخه حذف شي، بيا هم کلام پوره(تام) وي او نيمګړی نه وي.

دويم توپير دادی: چې الفاظ په دواړو کې نه بدلېږي! البته د محاورې په صيغه کې بدلون کېدای شي، او د ضرب المثل په صيغه کې تغير يابدلون نشي راتلای د پښتو ځينې متلونه داسې دي

— دلستونې مار – ديټ دښمن لپاره راوړل کېږي.

— بل ته مسلې کوه خپله پرې حملې کوه! – دبې عمله واعظ لپاره ويل شوی.

— څه چې کرې هغه به رېبې – دنيکيو بدله نيکه او دبدو . بده وي.

— وړه خوبه اوغټې خبرې – د خپل حيثيت نه جګې دعوې کول.

— دځراغ لاندې تياره وي – نوروته ګټه رسول او خپل ځان محرومول –

— په حرکت کې برکت وي – کارکول ګټه لري

— مدعی سست ګواه چالاک – دمعاملې څېړنه غلی او پر ځای يې بل غوږېږي

— په ضرورت کې خره ته هم اباوايي ! يعنې دمجبوری پرمهال به معمولي غوندې سړي ته هم زاری اومنتونه کوي.

استعارات:

استعارې لغوي معنی ده، پور کول؛ دبيان علم په اصطلاح کې کله يو لفظ په مجازي معنی کې استعمال شي او دحقيقي او مجازي معنی ترمنځ تشبيه وي؛ديته استعاره ويل کېږي، مثلاً :.سپوږمی ـ نه ماشوم مرادول،چاته په . زمری . ويلو هغه زړور بنودل !يا کوم سخي سړي ته په . حاتم . غږ کول !په دې مثالونو کې . سپوږمی ـ زمری . حاتم . درېواړه استعارې دي.

داستعارې ارکان:

استعاره درې ارکان لري . مستعارله . مستعارمنه . وجه دجمع .

مستعارله . هغه شخص يا څېز چې ورته لفظ مستعار اخستل شوی وي . په تشبيه کې ديته مشبه ويل کېږي.

مستعارمنه .هغه شخص یا څیز چې مستعاراخستل شوی؛ په تشبیه کې دیته مشبه به ویلی کیږي، مستعارله او مستعارمنه داستعارې طرفین هم بلل کیږي.

وجه دجمع .هغه مشترک صفت چې په مستعارله او مستعارمنه دواړو کې منډل کیږي؛ په تشبیه کې دیته دتشبیه وجه ویلی کیږي.

څېرنه:

په استعاره کې داستعارې له درې ګونوارکانو څخه یواځې مستعارمنه یعني مشبه به .ذکر کیږي؛ پاتې دوه نور یې نه ذکر کیږي، بلکې هغه دواړه به محذوف وي.

په تشبیه او استعاره کې توپیر:

په تشبیه کې مشبه اومشبه به دواړه راوړل کیږي؛ او پخپلو حقیقي معانیو کې استعمالیږي؛چې د تشبیه حروفو له لارې یې اظهار کیږي، هر چې استعاره ده، یکې یواځې مستعارمنه یعني مشبه به راوړل کیږي؛ او دتشبیه کوم حرف یکې نه راوړل کیږي؛ مثلاً؛یو شاعر که په شعر کې دخپل محبوب ښکلا اودهغه د ښکلا تازه ګي د ګلاب ډګل سره تشبیه کړي،یعني مشبه او مشبه به دواړه پخپلو حقیقي معانیو کې راوړي، او دتشبیه لپاره دتشبیه حروف و کاروي .دیته تشبیه ویل کیږي.

او که شاعر دنورې ښکلا یا حسن پیدا کولو لپاره دمجاز لاره ونیسي، هغه خپل ګران محبوب ګلاب ډګل په څېر ګڼلو پرځای فی الواقع هغه ګلاب وبولي!! یا په بله ویناد محبوب دوجود لپاره ګلاب پوروي ! او مجازي مفهوم یې راوړي، دیته استعاره ویل کیږي.

او ډګلاب حقیقي مفهوم چې ښکلی ګل دی ! او چې شاعر یې دخپل محبوب لپاره استعمال کړي، داد ګلاب مجازي مفهوم دی، او د دواړو ترمنځ دتشبیه تعلق شته دی هغه داچې ښایست یا ښکلا دواړو ترمنځ مشترکه ده؛ همدیته استعاره وایي، یعني په استعاره کې نه یواځې محبوب ډګلاب سره مشابه ګڼلی شي ! بلکې بعینه ګلاب ګڼلی شي !یعني مشبه به عین دمشبه ګڼل کیږي،اومشبه به دمشبه لپاره مستعار اخلي. له دې وجې په استعاره کې دمشبه او دتشبیه حرف راوړوته ضرورت نه وي، دمحبوب (مشبه) دذکر پرته ګل (مشبه به) محبوب (مشبه) وګرځول شي.

دتشبیه او استعارې دتوپیر لنډیز:

دتشبیه او استعارې ترمنځ توپیر په لاندې پنځو شیانو سره ښه پیژندل کیږي:

تشبیه :

۱.مشبه اومشبه به دواړه ذکر وي

۲.دتشبیه حروفو له لارې تشبیه ورکول کیږي

۳.دتشبیه ارکان ځلوردي

۴.تشبیه دبیان علم ابتدائي شکل ده

۵.دتشبیه اساس حقیقت دی

استعاره:

۱.استعاره کې یواځې مشبه به راوړل کیږي

۲. دتشبیه حروف نه؛ مخامخ مشبه به مشبه ګرځول کیږي

۳.داستعارې ارکان درې دي

۴.استعاره دبیان علم بلیغ صورت دی

۵. داستعارې اساس خیالي او مجازي انځور وي

په لنډ ډول داستعارې او تشبیه توپیر:

په تشبیه کې یوشاعر اوښکې مرغلرې یا ستوري ګرځوي؛او په استعاره کې شاعر اوښکه بعینه مرغلره؛ یا ستوری ګرځوي....!

سابقې او لاحقې

ځینې وخت دیونوم یا صفت سره دسرینو(سابقو)ادواتو په یوځای کیدو د ځانله کلمې بڼه غوره کوي، اونوې معنی افاده کوي، مثلا : دادب نه[بې ادب] جوړول،دپوه نه [ناپوی] جوړول په اول کې [بې]او په وروستي کې [نا]دسرینې ادات دي،په پښتو کې هغه ادات دي، چې دمدخول په سر کې راځي ورته سرینې یا سابقې ویل کېږي لکه(په، پر،د،تر، له،نا، بې)

لاحقې (روستاړی)

په نوم یا صفت کې د مدخول وروسته دځینو ادواتو په یوځا کیدو د ځانله جملې بڼه غوره کوي، ورته لاحقې (روستاړی) ویلی کېږي، هغه دادي(له، ته، لره، نه، ځخه، لپاره، باندې، پورې، پشان، په څېر، ځېر، پسې، راسې) هم هغه مرکب صفتونه چې د(من، وال، بخمن، مار، ور، جن، ن، ناک) اداتو په یوځای کېدو سره جوړ شوي لکه: دولت من سړی، میوندوال هلک، توربخن کمیس، ډوډی مار سړی، نمناک ځای، ډارن سړی، درواغجن سړی، خیټور هلک .

غرض دای چې دیوې ژبې لیکوال باید دهغه ژبې دلیکدود سره سم دجملو او کلمو جوړولو لپاره سابقې او لاحقې وکاروي، دژبپوهانو په وینا: دا دواړه پیژندل دهرې ژبې دپیژندنې یوه لوبه برخه جوړوي! ځکه دهمدې په مرسته مونږ لسګونه نوي الفاظ او نوې کلمې جوړولی شو،دکومو له املې چې په یوه ژبه کې وسعت او پراختیا راتلای شي. په پښتو ژبه کې دسابقو او لاحقو د اداتو پیژندل دپښتو پیژندنې له اولې ضروریاتو څخه دي، په وجه یې د الفاظو په معنیو کې ستر بدلونونه رامنځته کېږي، لیکوال به دغو ټولو بدلونونه ځیروي، او وروانديې ژور نظر به لري او دموقع سره سم به یې استعمالوي.

تذکیر اوتانیث:

بل په هره ژبه کې دمعیاري لیکوالي لپاره اړینه ده، چې لیکوال به په هغه ژبه کې دمذکر او مونث ترمنځ په توپیر کولو پوهیږي ، ځنګه چې دالفاظو په ویلو(تلفظ) کې غلطي د یوه نه بښونکې زیان په معنی ده، په ورته توګه دمذکر په ځای مونث راوړل او دمونث په ځای د مذکر راوړل نه بښونکی عیب دی،نوپه دې وجه دهر لیکوال او دقلم څښتن لپاره دتذکیر او تانیث فرق پیژندل لازمي او ضروري امر دی،ځکه په یوه لیکنه کې حسن او ښکلا هغه مهال منځته راځي، چې کله هغه له داسې ستر و تیرو تنو ځخه پاکه وې، ایله دهغې لیکنې په جملو کې روانې او سلاست راځي.

نو په هره ژبه کې په اعتبار دجنس سره نوم(اسم) په دوه ډوله دی، مذکر اومونث اوبیا ددې دواړو نه هریو (مذکر اومونث) دوه ډوله لري:

حقیقي – غیر حقیقي

حقیقي تذکیر او تانیث دیته وایي :چې دمذکر په مقابل کې مونث ښکاره شتون ولري، لکه مونږ وینو دنارینه سړي په مقابل کې ښځینه شتون لري، هم داسې دغوایي په مقابل کې غوا، دپلار به مقابل کې مور، دمیړه په مقابل کې میرمن،دورور په مقابل کې خور، دغلام په مقابل کې وینزه، داس په مقابل کې اسپه، دچرګ به مقابل کې چرګه او داسې نور... شتون لري، دابه دې معنی چې د تذکیر او تانیث دغه ډول په ساکښو کې مندل کېږي.

غیر حقیقي تذکیر او تانیث هغه دی چې دمذکر په مقابله کې مونث په ښکاره توګه شتون ونلري لکه: لرګی .

غرګی ـ ببری ـ مذکر کارول کېږي، خو په مقابل کې یې مونث شتون نلري، هم دمونث په مقابل کې مذکر شتون نلري، لکه :(مستې، شیدې، تروې، شلومې، یا لکه: خاوره ـ مالګه ـ ګوړه ـ اوسپنه ـ ایره دښځینه جنس نومونه کارول کېږي په مقابل کې یې د مذکر جنس څخه نومونه شتون نلري.

دلیکنې مقاصد:

دهرې لیکنې دلیکلو ترشاه خامخا کومه وجه او یا کوم محرک شتون لري او دلیکلو به یې ضرور څه موخه اومقصد وې، دمقصد پرته لیکنې مثال دهغه جسم دی؛ چې په هغه کې روح نه وي؛ له دې وجې د هر لیکوال لپاره دلیکنې لیکلو څخه وړاندې دهدف تعنیول پکاردي! په دې سره به نه یواځې دهغه لیکنه دژوندۍ لیکنې بڼه ومومي، بلکې دلیکوال داندونو، او افکارو تاثر به هم ترلوستونکو پورې ورسوي.

دبل هر غرض نه وړاندې لومړی غرض به یې دالله (ج) رضاء مندل وي! دلوستونکو اصلاح او هغوی ته ددین پیغام رسول وي، لیکوال باید داخبرې په زړه کې کینوي او ورته دخپل زړه دروازې پرانیزې! په همدې اړوند دلته څو پوښتنې راوړو، څو دنویو لیکوالو سره داهدافو په تعینولو کې مرسته وکړي:

-ته! دکوم هدف لپاره غواړي لیکنه ولیکي، هغه دژوند تر کومې برخې سره تړاو لري؟

-هغه لوستونکي چې ستا لیکنه لولي! دهغوی ذهني وړتیاوي، فکري استعدادونه اونظریاتي لرلیدونه څه دي؟

-ایا ستا! لیکنه اوهدف هغوی ته څه ګټه رسولی شي؟

-دلیکنې لپاره کوم هدف چې تا ټاکلی، ایا هغه دعمل وړ دی؟ ترلاسه کېدای شي؟

-تا! چې کوم هدف غوره کړی ایا هغه ښکاره دی او خلک په هغه باندې په اسانه پوهېدای شي؟

ددې پوښتنو په مرسته نوی زده کونکی لیکوال کولی شي، دخپلې لیکنې لپاره موخې وټاکي، دلته مونږ له هغه سره لږه مرسته نوره هم کوو:

دلیکنې درې ګوني موخې:

دلیکنې لپاره عموماً پوهان درې موخې په ګوته کوي:

۱. معلومات خورول ۲. د دین لورته دعوت او ترغیب ورکول ۳. تفریحي مواد خپرول.

حقیقت دادی چې په دې دریواړو کې دهدف لفظ په لومړیو دوه موخو صدق مومي، هر چې درېیمه ده، هغه خپله بذات مقصود نده، بلکې دوړاندېنو دواړو مقاصدو دتکمیل او لاسته راوړونې لپاره وسېله ده، په هره لیکنه کې چې داخلاقي حدودو دننه دبامعنی شوخۍ ظرافت او طنز ته ځای ورکړل شوی وي، هغه ښه په اسانه توګه دلوستونکو زړونه نیسي.

دغه دریواړه، موخې یا مقاصد له یوبل سره متباین ندي؛ چې چېرې یو راځي، بل به نه راځي؛ بلکې درېواړه په یوه لیکنه کې یوځای هم راتلی شي، لکه دارقامو، حقایقو او پیښو نه په جوړ شوی معلوماتي مضمون کې چې ځای په ځای دطنز، او مزاحې شوخۍ مالګه شیندلې وي، ددعوت، اصلاح او ترغیب په برخه کې دغسې مضمون زیات موثر وي، هغه لیکنه یا مضمون چې پکې دادریواړه موخې پکې نه وې ځای هغه معیاري او مقبوله نه ګڼل کېږي، لیکوال ته پکاردي، چې دهغه نیت صاف، هدف یې لوړ، او عزم یې

پوخ وي، په ليکنه کې دمستندو معلوماتو په راوړو دعامو خلکو اذهان جوړولو او دفکرې روزنې لورته په پام اړولو له سفلي ارادو او د هغو عاميانه جذباتو نه ځان وژغوري، کوم چې ددنياوي او اخروي ژوند ته د زيان زريعه ګرځي.

دليکنې عناصر:

اسان الفاظ. لنډې جملې. له يوبل سره ربط لرونکي پيراګرافونه.

دهرشي عنصر دهغه د جوړښت خپل اساسي ترکيبي اجزاء وي، چې دهغو په خپلمنځي ارتباط سره هغه شي وجود مومي! دلته ترهغه دمخه مونږ دليکنې ددې درې عناصرو په اړه لاندې توري راوړو:

دليکنې درې ګوني عناصر:

(۱)الفاظ(۲)جملې(۳)پيراګراف او بيا ددې درېو په باب د ځلورو خبرو پيژندل ضروري دي:

-الفاظ څنګه غوره شي؟

- په جملو کې د الفاظو ترتيب څنګه بنه دی؟

- له جملونه پيراګراف څنګه جوړيږي؟

-د درېواړو يوځای کولو لپاره بايد کوم اسلوب غوره شي؟

په دې اړه نور سپيناوي ته هم اړتيا ده.

الفاظ:

ليکوال په هره ژبه کې چې غواړي مضمون وليکي، بايد ځان سره دهغې ژبې د الفاظو دومره پريمانه زخيره ولري، چې هر کله دهغه په زړه کې کومه نوې نکته راګرځي،دليک په دايره کې دهغې د راوستو لپاره مناسب الفاظ وومي، که بيا،بيا هم دايوه معنی راځي،نو حافظه يې بايد ورته مترادف الفاظ ور کړای شي.

دپخوانيو اونويو الفاظو په ځای دليکدود الفاظ کارول غوره دي، دليکوالی زده کوونکی بايد پوی شي چې په ليکنه کې لفظي تعقيدات اونامانوس الفاظ راوړل ليکنه بې خونده بې ځانه او خشکه ګرځوي او په مشقت کې لوستونکي مبتلی کوي اوداکار په هواره لار کې هغې تيږې ته ورته دی، چې دليکوال سره تلونکی ژر له مزله نه ستړی کوي. نوي ليکوالان بايد درک کړي چې د نامانوسو کلماتو، الفاظو او ترکيبونو له راوړو ډډه وکړي.

جملې:

جملې په لږو الفاظو کې راوړل پکار دي، ځکه په لنډو جملو کې چې کوم خوند او رابنکون شته، په لويو او اوږدو جملو کې هغه نشته، که يوه معنی په اتو لفظونو کې افاده کېدای شي په لسو لفظونو کې دهغې راوړل پکار ندي.

مبتداء به وړاندې راوړي که خبر؟ اسم به مخکې راځي که فعل؟ ددې اهميت پيژندل پکار دي، نوی ليکوال چې کومه جمله ليکي دمخکنيو جملو سره مطابقت لرلو ته به ځير وي.

دفعل او فاعل مبتداء او خبر ترمنځ لنډه فاصله پکار ده، ځو لوستونکي دجملې داجزاوو، يا دلفظ او دهغه دادواتو ترمنځ ارتباط په اسانه معلوم کړای شي، لنډه داچې لنډې جملې راوړل عموماً داوږدو جملو راوړو نه غوره او رابنکونکي دي.

پيراګراف:

پيراګراف ځانته مستقل وحدت دی، چې ورته دعنوان ليکلو حاجت نشته او بيا دغه پيراګراف له نورو څو پيراګرافونو سره په يوځای کېدو مضمون جوړوي، چې هغه جلا عنوان لري! او بيا دځو مضامينو له يوځای کيدو څخه کتاب جوړيږي.

هو! پیراګراف دیوه مفهوم دروښانولو او ښکاره کولو یا یواځي دیوه حقیقت دتشریح لپاره د څو جملو نه جوړې مجموعې ته ویل کیږي، دکومو جملو ترمنځ چې به کلک مناسبت او ښکاره ارتباط وي، په پیراګراف کې داسې وحدت او استقلال راوستل پکاردي چې دهغه په وجه یولنډو کې مضمون یا دمضمون دننه بل مضمون وګنډل شي، له دې وجې به یکې داستقلال عنصر هم شتون لري، یعنې هغه باید دیوې نتیجه زیږونې او دیوې معلومې نکتې د توضیح لپاره وي.

دپیراګراف اوږدوالی باید منځینی وي، نه زیات اوږد اونه زیات لنډ وي، البته عموماً داوږده په ځای لنډ پیراګراف غوره دی.

دپیراګراف جوړښت به روان، مسلسل او منطقي وي، دمطلوبه مقصد په بیانولو کې به یې هره جمله په وړاندینۍ جملې مبني، او دراتلونکي جملې لپاره تمهید وي.

په ورته توګه دهرو دوه پیراګرافونو ترمنځ داسې ارتباط پکاردی، چې هر پیراګراف به دوروستي پیراګراف سره خامخا اړیکه ولري، ځکه چې په ټولیزه توګه ټول پیراګرافونه یواځي دیوه عنوان دتوضیح لپاره راوړل کیږي.

اسلوب:

اسلوب لفظ عموماً دروان عبارت لپاره راوړل کیږي چې لفظي تعقید ونلري، داسلوب یوه بله معنی داده چې دلیکنې بڼه خاکه جوړول، مواد په بڼه توګه راوړل، دلیکنې پایلې ښکاره کول، اوهر هغه څه چې دلیکنې دمعیاریتوب سره مرسته کوي هغه په پام کې نیول؛ له دې پلوه داسلوب په ټاکلو کې لاندینو اصولو لحاظول اړین دي:

— بایدلیکوال حتی الامکان دواحد متکلم (انائیت) ضمیر له راوړو ډډه وکړي

— قافیه بندي که له تکلف پرته په وقفه وقفه وي غوره ده؛ هم داشان غبرګې جملې راوړل دلیکنې دخوند تومنه خوړوي.

— له مشهورو شعرونو یامتلونو ډډه کول.

— دیته هم ځیرنه پکاره چې معنوي تکرار یا په بیا بیا یوه نکته سپرلل نوی عیب دی.

— دغوره اوعمده اسلوب یوه نښه داده چې دجملو ترمنځ داسې ارتباط باید راشي چې هره وروستۍ جمله دوړاندینۍ جملې سره تړلې اوپیوست وي. بله نښه یې داده دومره لنډیز چې څومره لوستونکي خوښوي، هغوی ته هم هغومره نوي نوي مواد ورکول پکاردي، لیکوال چې دکومې نکتې تشریح کوي دهغې دتشریح وروسته یوه کرښه هم اضافه ونه لیکي، بلکې هغه ته پکاردی چې راتلونکي خبره پیل کړي او لوستونکي هغې ته متوجه کړي.

هرکله چې لیکوال دیوې لیکنې دلیکلو څخه فارغ شي هغه ته پکاردي چې داسلوب معلومولو لپاره په لوړ غږ کې یې وولي. څو دجملو ترمنځ مناسبت وګوري او دلفظونو په ترکیب کې پخپل منځي هم آهنګي او دجملو په ربط او تسلسل ډاډمن شي نوربیا

ګیمبیا اوپکې دزړور توب نه وکه بله پرېکړه

حسن زوی

داسلامي نړۍ دغم نه ډکو خبرونو اوپېښو په منځ کې یو خوښی خبر دادی چې په ګیمبیا کې دانګلیسي اشغال وروستی نښه هم له منځه ولاړه اودانګلیسي پرځای عربي رسمي ژبه وګرځېده.

ګیمبیا دلویدیځې افریقې نسبتاًیو کوچنی خوممتازهېواد دی ؛داهېواد ۱۰۲۸۹ کیلومتره مربع مساحت لري ؛ دنفوسو شمېرې یوملیون او ۹سوه زروته رسېږي؛ له ۳ اړخونوترې سنیګال راتاودی اولویدیځ لورته يې بحراقیانوس دی ټول هېوادیوه داسې نړۍ ترانګه ده چې ترټولوزیات پلنوالی يې ایله ۴۸ کیلومترو ته رسېږي ؛ بنجل ښاریې پلازمېنه ده اودهېواد ترټولوستر ښارسریګنډادی چې همدا يې دسیاسي ،اقتصادي ټولنیزواوکلتوري چارومرکزدی ؛ ځمکه يې ښه حاصل خېزه ده چې ټوله دګیمبیاله روده خړوبېږي؛

دګیمبیارودافریقالـه مشهورو رودونو څخه دی دګنې له غرونوسرچینه اخلي له سینیګال نه تېرېږي ګیمبیا خړوبوي اوبیا کاښود۱۱سوه کیلومتره اوږدې مسافې پرې کولونه پس بحراقیانوس ته غورځېږي ؛ ګیمبیاته زیات شهرت همدې دګیمبیا رود وربخلی دی اود اوبولـه لارې دبحراقیانوس سره افریقادهمدې رود لـه لارې ترړل شویده ؛دکال په کمو میاشتو کې دلته بارانونه کېږي چې کلنی مقداریې ایله ۱۳۰۰ملي متروته رسېږي ؛ددې هېواد په ګټو څنګلونوکې دځنګلي حیواناتوډېرانواع موندل کېږي.

دګیمبیا۹۰سلنه وګړي سوچه مسلمانان دي چې زیاتره يې په فروعوکې دحضرت امام مالک رحمه الله تعالی پیروي کوي اودباطن داصلاح اوتصوف پکې عام دی؛ په هېواد کې

۸ سلنه کاتولیکان عیسویان دي اوکابو ۲سلنه يې نورنامسلمان دي.

پرهند دانګلیسانو دقبضې پرمهال چې دغلام احمد قادیاني په نوم یوکذاب دانګلیسانو په لمسون د پېغمبرۍ دعوه کړې وه اوپه هند اوشاوخواسیمو کې يې پیروان هم پیدا شول چې قادیانیان بلل کېږي اودرسول الله صلی الله علیه وسلم دختم نبوت نه دانکار اویوکذاب ته دپېغمبر ویلو له املهدشرعي اصولو له مخې دامت دعلماءو په اتفاق نامسلمان دي ، خوقادیانان دخلکو دګمراه کولولپاره ځانونه مسلمانان بنايي اولویدیځ هم داسلامي هېوادونو په دولتونو ډېرزیات فشارراولي چې قادیانان په رسمي توګه مسلمانان ومني ؛ په ګیمبیا کې هم په لږشمېر کې دغه قادیانان شتون لري چې په اړه يې دګیمبیا ولسمشرښاغلي یحیی جامع ډېره دجرأت نه ډکه پرېکړه وکړه اوکابو دوه اوونۍ وړاندې يې رسماً نامسلمان اعلان کړل اودادی اوس يې دټولې نړۍ مسلمانانو لپاره یوه بله خوشالونکې پرېکړه وکړه اودانګلیسي پرځای يې عربي رسمي ژبه وګرځوله.

ترټولو وړاندې دمراکش عربو سوداګرو په لسمې مسیحي پېړۍ کې دګیمبیا ذکرکړي و ؛ اوپه منظمه توګه دلته دموریتانیا اوسینیګال دمسلمانو مبلغینو له لورې داسلامي دعوت کار په یولسمې مسیحي پېړۍ کې پیل شوی چې په ډېرې لږې مودې کې په ډېرې تېزۍ دلته اسلام خپور شواوپه دولسمې مسیحي پېړۍ کې چې مسلمانو حاکمانو په مشرۍ کې دسینیګال درود چارچاپېره دتکرور په نوم سلطنت رامنځته شو نواسلام دلته بیاډېره وده ومونده له.

ګیمبیابیا دغانا اومالي سلطنت برخه وګرځېده له خوپه ۱۵مې پېړۍ کې چې پرتګالي سوداګرودې سیمې ته مخه کړه نودپرتګال پرسلطنت مسلط انتونو ګیمبیاته سترګې خړې کړې اوپه ۱۵۸۸م کې يې له خپل لورې د ګیمبیا دسیند سوداګریزحقوق پرانګریزانوو پلورل؛له دې نه پس انګریزانو ته دلته دقدمونو اینبودلوموکه په لاس ورغله ؛ګورلینډ نومي یوانګریزد ګیمبیا یوه جزیره قبضه کړه اوپه جیمزآی لینډ يې ونومولهاوچې کله په ۱۷۵۸م کې فرانسې سینې ګال قبضه کړنودآکستس په مشرۍ کې انګلیسي قواوې پر ګیمبیا قابضې شوې ؛ داهغه زمانه وه چې فرانسویانواو انګلیسانو به په زوردافریقانه ازادانسانان په کښتیوکې راوړل اودغلامانو

په نوم به يې په امريکا اويو شمېرنو روهېوادونو کې پلورل؛ برتانې دانسانانونددې تجارت لپاره په ګيمبيا کې يوه سمندري اډه هم جوړه کړې وه

؛دګيمبيا اودګيمبيا درود په سربه دبرتانې اوفرانسې ترمنځ دتاوتريخوالي پېښې هم رامنځته کېدې اوهريوبه کوښښ کاوه چې ددې هېواد پرېکړې په خپل لاس کې واخلي.

دلته ددوئ پرضد دمسلمانانولەلورې مقاومت هم روان واودګيمبيا مسلمانومشرانوبه ددوئ دپرېکړو سره خپل مخالفت بنکاره کولوخو ډېر ژربه دغه صبو انګرېزانو له لورې په شهادت رسولی شول.

دانسان پلورلوداکاروبارتر۴پېړيوروان وچې پدې ۴پېړيوکې يواځې په امريکاکې تر۳مليونوپورې افريقايان پلورل شوي وو ؛ په ۱۸۰۷م کې چې دبرتانې دولت دانسانانونو په پلورلواوپېرلوبنديزولګولونودبرتانې سمندري ځواکونوبه دافريقاد مختلفو هېوادونونه دراوړل شويوانسانانونه ډک سمندري جازونه په بحراقيانوس کې ودرول اوپکې سپاره ټول انسانان به يې تر دګيمبيادسيند پرغاړې پرتې ميګارتې نومي جزيرې ته راوړل چې دلته به دنويوازادوشويوغلامانو نوی ژوند پيلېدلواودهرځای به چې ووېيابه دهمدې ځای اوسېدونکي ګڼل کېدل.

برتانې خوپه بنکاره دلته دانسان پلورنې اوغلامۍ باب بندکړی و خوچې ددوهم نړيوال جنګ پرمهال به برتانې دګيمبيا ځونان په جبري ډول دفوځ ليکو ته راوستل اودجنګ په ټولوسختو ډګرونواوپه ځانګړې ډول دبرماپه ځنګلونو کې به يې دخپلو اهدافو دحصول لپاره دګيمبيا په شمول دافريقا دځوانانوله وينوکاراخستلو.

ددوهم نړيوال جنګ له املې چې لويه تباهي رامنځته شوې اودنړۍ په قبضه شويوهېوادونوکې داشغالګروزبرځواکونونه دآزادۍ اخستلو تحريکونه پيل شوي وونوپه ۱۹۲۰کې دګيمبيادکوڅې کوڅې نه هم دآزادۍ ناري راپورته شوې چې داوړدوهځونه پس د۱۹۲۵م کال دفروري مياشتې په ۱۸ مې نېټې ګيمبيا دبرتانې نه ازادي ترلاسه کړه اودګيمبيا درود په خولې کې پروت بنجول نومي بنارېې پلازمېنه وګرځېده ؛ د۱۹۸۱م کال په جولای کې چې دولسمشر ((داودکيرابا جوارا)) پرضد فوځي بغاوت

شوی و نوددغی فوځي بغاوت دځپلو لپاره دسيني ګال فوځ راغوښتل شوی و ؛ دسيني ګال فوځ چې دفوځي بغاوت په ځپلو وتوانېد نودسيني ګال اوګيمبيا ترمنځ د ،،سيني ګيمبيا،، په نوم مشترک دولت رامنځته شو ؛ په ۱۹۸۹کې ګيمبيا دګډ دولت نه جدايې اعلان کړه د۱۹۹۴م په فوځي انقلاب کې دولسمشرجوارا اداره له منځه ولاړه اوفوځي مشر يحی جامع واک ته ورسېدلو ؛ د۲۰۰۱م دانتخاباتونه پس يحی جامع دهېواد ولسمشر شوچې لاهم دهېواد ولسمشردی اوهمده قاديانان نامسلمان اعلان کړل اودهېواد درسمي ژبې په توګه يې دعربۍ په اعلانولو دانګليسي استعمار وروستۍ نښه هم له منځه يوړه.

دګيمبيا ددې اقدام په اړه خوتراوسه دغربي نوروهېوادونوله لورې کوم غبرګون ندی رامخې ته شوی يواځی د((پريس افريک)) نومي فرانسوي اخبارپدې اړه خپله اند ېښنه ښکاره کړيده اوليکلي يې دي چې داسې ښکاري چې دګيمبيا ولسمشرددې هېواد نظام په اسلامي نظام بدلول غواړي.

دتعصب نه ډکې دې خبرې دترديد په ترڅ کې په ګيمبياکې دعربۍ اواسلامي علومو داداري مرستيال محمدصارويلي دي :دګيمبيا ولس دعربۍ سره جورتړاو لري اوددې مسلمانې ټولنې ديني شاليد ډېره روښانه دی ؛ پدې سيمې کې له مودوراهيسې عربي رائجه وه اود ((وولوفاومينډنګا))بادشاهانوددفتراودرب ارژبه عربي وه اوپه سکوباندې يې هم عربي حروف نقش وو نواوس هم چې دګيمبيا کوم کلي ته ورځې عربي ويونکي به پکې خامخامومې ؛ دعربۍ ژبې دشتون اوبقالامل دلته ديني مدارس دي ،،

دمدرسة السلام مديرمحمد جالو ويلي دي چې ،، دګيمبيا په مسلمان ولس کې داسلامي تشخص په بقاکې داسلامي عقايدو اوعربي ژبې ډېره لويه ونډه ده ځکه خوانګليسي استعمار دډېرو کوښښونوپه نتيجه کې انګليسي ددې هېواددفتري ژبه وګرځوله ترڅوددې ولس دعربۍ ژبې سره تړاوپرې شي خوپکې ناکام شول او اوس يوځل بيا عربي ددې هېواد رسمي ژبه اودتعليم ذريعه وګرځېده.

قناعت چیست و قانع کیست؟

(دکتور محمد اسماعیل لبیب)

قناعت یکی از صفات بس مهم ونیک راد مردان بزرگ، بلکه یکی از عطیه الهی برای بندگان برگزیده ومحبوب پروردگار است.

تعریف ومفهوم قناعت:

قناعت که أصلا راضی بودن به بهره، نصیب و تقسیم الله تعالی است. راجع به تعریف آن أقوال متعدده از علماء نقل شده است. راغب اصفهانی می گوید:

القناعة الاجتزاء باليسير من الأغراض المحتاج إليه.

» قناعت اکتفا نمودن به چیز کم واندکی از چیزهایی است که انسان به آنها نیاز دارد، جاحظ عالم لغوی راجع به قناعت می گوید:

» القناعة هي الاقتصار على ما سنح من العيش و الرضا بما تسهل من المعاش و ترك الحرص على اكتساب الأموال و طلب المراتب العالية مع الرغبة في جميع ذلك والميل اليه و قهر النفس على ذلك والتقنع باليسير منه.

قناعت اکتفا بر آن وسائل زندگي است که میسر شده است و راضی شدن به آن اندازه از أمور معاش است که به سهولت به میان آمده، و ترک حرص برای به دست آورن أموال و ثروت و ترک طلب و تقاضای مراتب عالی و منازل بلند، باوجود که رغبت و علاقه و دلچسپی بر آن موجود است، ونفس را درین راستا مغلوب نمودن وقناعت بر چیزاندکی ازان می باشد« وبرخی از علماء قناعت را چنین تعریف کرده اند

» القناعة هي الرضا بما قسم الله ولو كان قليلا وعدم التطلع الى ما في أيدي الآخرين وهي علامة على صدق الإيمان.

» قناعت عبارت از راضی بودن به آنچه که الله تعالی به (بندگان) تقسیم نموده گرچه اندک باشد و عدم تطلع وچشم داشتن به آنچه که به دست دیگران است وهمین نشانه صدق و راستی إیمان است.

ابن تیمیه راجع به قناعت گفته است:

» هي ترك الرغبة فيما لا ينفع في الدار الآخرة التي لا

یستعان بها علی طاعة الله عز وجل«.

» قناعت عبارت از نداشتن میل و علاقه بر آنچه که در سرای آخرت به سود انسان تمام نمی‌شود و آنچه که بر طاعت الله تعالی از آن استعانت جسته نمی شود.

مراتب قناعت:

علما برای قناعت سه مرتبه ذکر کرده اند:

۱ - اینکه انسان بر آنچه که از دنیا برایش رسیده قانع بوده و از تقاضا و تعرض بیشتر از آن خود را نگهدار. مالک بن دینار می گوید:

» ازهد الناس من لا تتجاوز رغبته من الدنیا بلغته«

» زاهد ترین انسانها کسی است که رغبت و میل وی به دنیا از آنچه که برایش رسیده است تجاوز نمی کند.

۲ - اینکه قناعت او را در حد کفایت متوقف سازد و بیشتر و بالاتر از حد کفایت را حذف کند طوری که در اثر آمده من رضی بالمقدور قنع بالمیسور.

» کسیکه بر آنچه برایش مقدر شده راضی شد بر آنچه برایش میسر شده قانع می شود.

۳ - اینکه قناعت او را بر آنچه که برایش رسیده متوقف سازد و آنچه که برایش می‌آید ناپسند نمی باشد هر چند زیاد بوده باشد و در پی طلب آنچه که دریافتنش مشکل است نمی گردد هر چند کم و اندک باشد.

فوائد قناعت:

قناعت بدون شک فوائد زیاد دارد که ذیلا به برخی از آنها اشاره می نماییم:

۱ - از فوائد قناعت اینست که قلب انسان با ایمان به الله تعالی و اعتماد بر آن و رضا بر آنچه که برایش مقدر و تقسیم شده مملوء می گردد.

» إن من ضعف یقینک ان تکون بما فی ید ک أوثق منک بما فی ید الله«

» از نشانه سستی یقینت آنست که اعتمادت بر آنچه که در دست داری بیشتر از آنچه باشد که در دست الله تعالی است«.

۲ - زندگی خوش و گوارا نصیب انسان قانع می گردد. الله تعالی فرموده است:

» مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً » [النحل : ۹۷]

» هر مرد و زنی که کار نیک وشایسته انجام دهد و در حالی که ایمان داشته باشد ما زندگی خوش و گوارا برایش فراهم می سازیم«

ابن جوزی می گوید:

» من قنع طاب عیشه ومن طمع طال طیشه«

» هر که قناعت نماید زندگی اش خوب و گوارا می‌شود وهر که طمع نماید سرگردانی اش به درازا می‌انجامد«

۳ - از فوائد قناعت آنست که به قناعت شکر منعم حقیقی که پروردگار است تحقق می یابد. زیرا کسی که به رزق پروردگار قانع شد به شکر او می‌پردازد ازین سبب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده اند:

» كُنْ وَرِعًا تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ وَكُنْ قَنِعًا تَكُنْ أَشْكَرَ النَّاسِ» (سنن ابن ماجه- عن ابي هريره.

» ورع و تقوا پیشه کن تا عابدترین انسانها شوی قناعت اختیار نما تا شاکر ترین انسانها گردی«

۴- رستگاری و بشارت نصیب قناعت پیشه گان است در حدیثی که به روایت فضالة بن عبید آمده رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده اند:

» طُوبَى لِمَنْ هُدِيَ إِلَى الْإِسْلَامِ وَكَانَ عَيْشُهُ كَفَافًا وَقَنَعَ «(سنن الترمذي:

» خوشحالی باد کسی را که به اسلام هدایت شده ومعیشتش به اندازه کفایتش بوده وقناعت داشته باشد

ودر حدیث دیگر که مسلم روایت کرده آمده است.

» قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللَّهُ بِمَا آتَاهُ «(صحیح مسلم.

» به یقین به فلاح ورستگاری رسیده کسیکه به اسلام گرویده وبه قدر کفایت روزی داده شده والله او را بر آنچه که داده قناعت بخشیده است«

۵ - قناعت انسان را از گناهان که قلب را تخریب و نیکی ها را زبین می برد نگهیدار دچون حسد، غیب، سخن چینی و دروغ وغیره وبرخی از حکماء گفته اند:

» وجدت أطول الناس غماً الحسود وأهنأهم القنوع «

» باغم ترین انسان را حاسدان وآرام ترین وخوشگوار ترین آنان را قناعت پیشه گان یافته أم.

۶ - حقیقت غنامندی در قناعت است. رسول الله صلی الله علیه وسلم در حدیث که بخاری ومسلم روایت نموده اند فرموده اند:

» لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ «(صحيح البخاري)

» غنای (حقیقی) از داشتن سامان وکالای زیاد نیست ولیکن غنای (حقیقی) غنای نفس است«

و در حدیث که ابن حبان در صحیح خود آورده به این لفظ آمده است.

» ليس كذلك إنما الغنى غنى القلب والفقر فقر القلب «(المستدرک علی الصحیحین للحاکم)

» غنای حقیقی، غنای قلب وفقر حقیقی فقر قلب است«

سعد ابن أبی وقاص پسرش را توصیه نموده گفت:

» يا بني إذا طلبت الغنى فاطلبه بالقناعة فإنها مال لا ينفد«

» ای پسر کم هر گاه غنا و ثروت می خواهی آنرا با قناعت بخواه زیرا قناعت مالی است که انتها نمی پذیرد«

از أبو حازم که یکی از علما و زهاد است، شخصی پرسید و گفت:

» ما مالک ؟ قال : لی مالان لا أخشی معهما الفقر : الثقة بالله، والیأس مما فی أیدی الناس «

مال تو چیست ؟ أبو حازم گفت : من دو نوع مال دارم که با آنها از فقر نمی ترسم : یکی اعتماد به الله و دیگر ناامید بودن از آنچه که در دست مردم است«

۷ - عزت مسلمان در قناعت و ذلت او در طمع است این مطلب در حدیث که حاکم نیشاپوری آنرا روایت نموده و صحیح خوانده آمده است.

» شَرَفُ الْمُؤْمِنِ قِيَامُ اللَّيْلِ، وَعِزُّهُ اسْتِغْنَاؤُهُ عَنِ النَّاسِ «.

» اند شرافت مسلمان در شب (به نماز) ایستادن وی وعزتش در استغنا و بی نیازی اش از مردم است«

بادیه نشینی به باشندگان بصره گفت: سید و سردار اهل بصره کی می باشد؟ گفتند: حسن است، گفت: با چه چیز سیادت را کمایی کرده است؟ گفتند: مردم محتاج به علم او می باشند و او از دنیای مردم مستغنی است،

موانع دست یابی به قناعت:

البته تعدادی از أسباب و عواملی اند که مانع دست یابی و رسیدن به قناعت می گردد که ذیلا برخی آنها را یاد آور می شویم:

۱ - کشش خواسته‌های نفس. شهوتهایی که جز از راه کثرت مال و افزایش ماده نمی توان به آن دست یافت.

۲ - خواستن زیادت مال و طلب کثرت آن به خاطر مصرف نمودن آن در راهای خیر و کار های نیک. البته این شخص معذور بوده بلکه قابل ستایش است. کسی به ابوزناد گفت: "چرا به مال و ثروت محبت داری در حالی که ترا به دنیا نزدیک می سازد؟ أبو زناد گفت: مال ثروت اگر چه مرا به دنیا نزدیک می سازد ولی مرا از آن نگهداشته است.

۳ - تمایل به افزایش مال و جمع آوری آن تا برای أولاد ها و فرزندانش ذخیره کند و بعد از خود به جای بگذارد. این چنین شخص با جمع آوری مال شقی و بدبخت بوده به گناه آن مؤاخذه خواهد شد و از چند نگاه قابل ملامتی و سزاوار نکوهش است:

أ- بد گمانی به پروردگار در باب رزق و روزی رساندن به بندگان.

ب- این شخص با اعتماد به ماندن مال به اولادهایش برای حوادث روزگار، اعتمادش را از الله کم می کند.

ج- محروم شدن خود شخص از منافع مالش.

د- این شخص برای جمع نمودن مال زحمت و تکلیف زیاد می کشد اما خودش از خیر و نفع آن محروم و سعی و تلاشش در صورتی که مالش در وجوه خیر مصرف نشود مذموم است.

هـ- وبال و گناه جمع آوری و محاسبه آن بر شخص خواهد بود.

شخصی به حسن بصری گفت: من از مرگ می ترسم و مرگ را بد می بینم حسن گفت: به خاطری که تو مال خود را پس انداخته ای و اگر أنرا پیش می فرستادی پیوستن به آن ترا مسرور می ساخت.

راهای رسیدن به قناعت و دریافت آن همان طوری که اسباب و عواملی وجود دارد که مانع دست یابی قناعت است. اسباب و عوامل، طرق و راهای وجود دارد که انسان با استخدام آن می تواند به قناعت دست یابد که اینک ذیلا به ذکر برخی از آن ها می پردازیم

۱ - تقویه ایمان و تدریب قلب بر قناعت.

۲ - یقین داشتن بر اینکه رزق در رحم مادر نوشته شده است.

۳ - تدبر و تفکر در آیاتی از قرآن کریم به خصوص در مثل آیات ذیل

أ- مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا (فاطر: ۲)

هر رحمتی را که الله برای مردم باز گشاید پس برای آن (رحمت) باز دارنده ای نیست.

ب- وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ يُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ [يونس : ١٠٧]

واگر خیر و نعمتی را بر تو اراده نماید پس هیچ کس باز دارنده فضل او نیست و به هر کس از بندگانش که بخواهد فضل خود را می رساند.

ج- وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا [هود: ٦]

وهیچ جنبنده ای در زمین نیست مگر اینکه روزی آن بر الله است.

د- سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا [الطلاق : ٢]

زود باشد که الله بعد از تنگدستی آسانی آورد.

۴ - شناخت حکمت الله تعالی در تفاوت أرزاق ومراتب بین بندگان.

أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا [الزخرف : ٣٢]

آیا آنان رحمت پروردگارت را تقسیم می کنند؟ ما معیشت آنها را در زندگی دنیا میان شان تقسیم کرده ایم.

۵ - دعاء و سؤال زیاد برای رسیدن به قناعت.

۶ - علم بر اینکه رزق تابع مقیاس های بشری نیست.

۷ - دیدن به سوی کسیکه در امور دنیا از انسان پایان تر وضعیف تر است.

۸ - خواندن و مطالعه سیرت سلف صالح.

۹ - علم بر اینکه مال و ثروتی که از راه مشروع به دست نیامده باشد سر انجام آن شر و وبال است

۱۰ - توجه و دقت بر اینکه تفاوت میان غنی وفقیر خیلی بسیط است .

د ټنې مسلمان ځانګړتیاوې - له کتاب څخه

امام غزالي رحمه الله د صدق مراتب په "احیاء العلوم" کې په دې ډول بیان کړي:

۱ - په خبره کې صدق : یعني ژبه درښتیانه پرته بل څه ونه وایي

۲ - په نیت او اراده کې صدق : یعني ژبه چې رښتیا وایي. لامل او باعث یې د الله تعالی رضا کسب کول وي نه د ځان رضا کول.

۳ - د الله تعالی لور ته په قوي عزم او ارادې سره کوچ کولو کې صدق.

۴ - د کوم شي عزم یې چې کړی په هغه باندې وفا کولو کې صدق. ځکه نفس د تصمیم نیولو پر مهال ډیر قوي وي خو کله چې دوفا او عمل ډګر ته شي. بیا د ناتوانۍ اظهار کوي.

۵ - په عمل کې صدق. ځکه که د انسان د ظاهر له باطن سره په عمدي او قصدي توګه ټکر راځي. د ریاء ده او اخلاص له منځ نه وړي . او که دا ټکر په عمدي او قصدي توګه نه وي نو په دې صورت کې بیا صدق له منځ نه وړي . په عمل کې صدق دیته وایي چې له حق سره په ظاهر او پته دواړو کې موافقت راشي .

۶ - بالاخره دا چې صدق په ټولو دیني مقاماتو کې لکه په حالت د ویرې او امید کې. په تعظیم کې. په رضا کې. په زهد کې. په توکل کې او په مینه کې شته او همدا د صدق د ټولو نه لوړ مراتب دي. الله تعالی فرمایي:

{وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا} (الاسراء: ٨٠)

"او ووایه : ای زما ربه ! ما چې چیر ته بیایې نو له رښتینولې سره مې یوخه او له کوم ځای نه مې چې وباسې نو په رښتینولې مې وباسه او ستا له لوري یو ملاتړ را په برخه کړه"

معنی دا چې د مسلمان داخلیدل په هر کار کې. هر یوه عمل ته لاس اچول. او یا تړي وتل د هر یوه کار پریښودل ټول د الله تعالی د رضا لپاره وي او مسلمان چې دې درجې د صدیقیت ته ورسیږي. په نظر کې یې هیڅ هدف د دنیا لور ته نه پاتې کیږي او یوازې د هغو امورو سره مینه کوي او هدف یې ګرځوي چې د الله تعالی د رضا د کسب کولو لامل ګرځي.

دا همغه صدق دی چې سړی نیکۍ ته را بولي او جنت ته یې رسوي.

جنګي جنايتونه (اپريل)

سيد سعيد

دروان (۲۰۱۵،ز) کال د اپريل د مياشتي په ۵مه نيټه د ننګرهار ولايت د اچين ولسوالۍ مرکز ته نژدې پوليسو دملکي خلګو پر يو کرولا موټر ډزي کړي چې له املې يې دوه تنه ولسي وګړي شهيدان شوي او يو تن ژوبل شوي دي.

د اپريل په ۷مه د پکتيکا ولايت د اوګون ولسوالۍ په پيرکوتي سيمه کي د اربکيانو په ډزو کي دوه تنه ولسي هيوادوال ټپيان شوي او يونفر شهيد شوی دی.

د اپريل په ۸مه دکونړ ولايت دنارۍ ولسوالۍ په کامتلي سيمه کي د کورنيو ځواکونو دهاوان په برید کي يو ملکي وګړی شهيد شوي دي.

د اپريل په ۱۲مه دپکتيا ولايت د احمد خېل ولسوالۍ په حسن خېلو سيمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کي يو ملکي وګړی شهيد شوی او شپږ نفره ژوبل شوي دي.

دافغان اسلامي اژانس دراپور په اساس د اپريل په ۱۴مه دکاپيسا ولايت د تګاب ولسوالۍ په شاوخوا کي دحکومتي عسکرو او طالبانو ترمنځ جګړه ونښته ، دنښتي په جريان کي دحکومتي قواوو دهاوان يوه ګولۍ پر يو کور ولګيده چې له املې يې پنځه لس تنه ولسي وګړي مړه او ژوبل شول. په يادې شوې واقعه کي څلور کوچنيان ، دوې ښځې او دوه تنه نارينه شهيدان شوي او اووه نفره نور ملکي هيوادوال ټپيان شوي دي ،توغندي دسين زيو کلي کي دسميع الله په کور ولګيدلې او دپينبې ټول قربانيان دنومورې دکورنۍ غړي دي.

د اپريل په ۱۵مه د لوګر ولايت د څرخ ولسوالۍ په ګرم آبه بازار زيلالۍ سيمه کي د کورنيو عسکرو په ډزو کي يوه ميرمن شهيده شوې او درې ماشومان ټپيان شوي دي.

د اپريل په ۲۱مه د زابل ولايت د شهرصفا ولسوالۍ په مربوطاتو کي کورنيو عسکرو دعملياتو په ترڅ کي دوه تنه ولسي وګړي چې يو تن يې ليونی ؤ له ځان سره دبنديانو په توګه ببولي دي.

داپریل په ۲۳مه د زابل ولایت د دایچوپان ولسوالی دمرجان په کلي کي د داخلي عسکرو ددرونو وسلو په ډزو کي پنځه تنې ښځي او ماشومان ژوبل شوي او یوه ښځه شهیده شوې ده.

داپریل په ۲۴مه د زابل ولایت د شاجوی ولسوالی په پاتخپلو کي اربکیانو درې تنه قومي مشران (ملاعبدالله ،حاجي عزیز خان او علي حیدر خان)په موټر کي سپاره کړي او په مخکني ماین الوزولي دي.

د اپریل په ۲۵ مه د زابل ولایت د شاجوی ولسوالی دشباردجمالخیلو په سیمه کي داخلي عسکرو په سیمه کي دخپل یوه مامور دوژل کیدو وروسته یو لس کلن ماشوم شهید کړی دی، همدا رازپه شش ګاو سیمه کي دکورنیو عسکرو دهاوان په ډزو کي یوه ښځه او دوه کوچنیان ژوبل شوي دي.

د اپریل په ۲۲ مه کورنیو ځواکونودزابل ولایت مرکزقلات دسپیني غونډی پرکلي دچاپې پرمهال دوه تنه ملکي هیوادوال بندیان کړي دي.

داپریل په ۲۷ مه رسنیو خبر ورکړ چې: دغزني ولایت په مقر ، ګیلان او ناوه ولسوالیو کي د داخلي ځواکونو دختجر په نوم عملیاتو کي ولسي خلګو ته پراخ زیانونه رسیدلي دي، په خبر کي دملکي وګړو له خولې ویل شوي چې: داردوعسکر، پولیس او اریکیان یې له کورونو څخه ښځي ،ماشومان او بوډاګان په زوره باسي، دکور قیمتي شیان له ځان سره خپلو پوستو ته وړي او بیا دخلګو کورونه ورنړوي، په خبر کي دعیني شاهدانو له قوله ویل شوي چې په دغو عملیاتو کي دولسي خلګو په لسهاوو کورونه ویجاړ شوي او خلګ یې له طالبنو سره د همکاری په تور له خپلې سیمې شړل شوي دي.

د اپریل په ۲۸ مه دهلمند ولایت دګریشک ولسوالی په نهرسراج سیمه کي کورنیو عسکرو دطالبانو سره ترجګړې وروسته د هاوان ډزي کړي چې له املې یې شپږ تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

داپریل په ۲۹ مه دغزني ولایت دشلګر ولسوالی په خاني کلي کي د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کي دوې ښځي او دوه کوچنیان زخمیان شوي دي.

داپریل په ۳۰ مه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالی په کلتیپه سیمه کي دیرغلګرو ځواکونو په بمبارکي شپږ تنه ملکي هیوادوال دښځو او کوچنیانو په ګډون ژوبل شوي او دخلګو کورونو ته زیانونه اوښتي دي.

مأخذونه: [ابي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،خبریال ویبپانه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

پ اسلام کې د خطر مدیریت

(خالد عطا)

نړیوال اسلامي پوهنتون اسلام آباد

دا یو روښ حقیقت او د انساني فطرت غوښتنه ده چې انسان دې د راتلونکي خطراتو او مشکلاتو په نظر کې نیولو سره د خپل حال او راتلونکي ممکنه خطراتو او مشکلاتو څخه د ځان ژغورلو لپاره مختلفې احتیاطي لارې خپلې کړي تر څو د مشکلاتو په پوره توګه مخه ونیول شي او یا هم تر یو څه حده کم کړی شي. که انساني تاریخ ته یوه ځغلنده کتنه وکړو نو دا به راته جوته شي چې په هر دور کې د هغه دور خلکو د علم او پوهې سره سم د خطراتو مدیریت خپل کړی دی. د خپلو جسمونو د حفاظت لپاره چې د موسمونو او چاپیریال د مضرو اثراتو څخه محفوظ شي د مختلف قسمه لباسونو او هستوګن ځایونو انتظام کړی دی، داسې خواړه یې انتخاب کړي چې د موسمي ناروغیو څخه یې وژغوري. په دې هکله که مونږ چیرته د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) له راتلک څخه وړاندې د عربو د جاهلیت دور ته وګورو نو جوته به شي چې عربانو به هم د خطر (Risk) کمولو او یا ختمولو لپاره مختلفې طریقې خپلولې چې بعضې یې یې دیرې مشهورې وې لکه: عاقله، ضمان خطر الطریق او د بنو اشعر د قبیلې عمل او داسې نور تصورات. د نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د بعثت څخه وروسته هم ځینې هغه طریقې چې کومې د اسلامي اصولو سره په ټکر کې نه وې څرنګه چې وې په همغه ډول (As it is) یې پریښودې ځینې نورو کې یې ترمیم (Alteration) راوستو او هغه چې د اسلامي اصولو سره په ټکر کې وو منعه یې اعلان کړې.

صرف دا نه چې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د هغه طریقو د جاري ساتلو امر وکړ کومې چې د اسلامي اصولو سره په ټکر کې نه وې او انسان پرې د خطره ژغورل کېدلو او یا هم د خطر د کمیدو لامل وې هغه یې وستایلې او په جاري ساتلو یې خوښې څرګنده کړه.

د درنو لوستونکو دلا پوهاوي په موخه غواړم چې عاقله، ضمان خطر الطریق او د بنو اشعر د قبیلې عمل په لنده توګه روښانه کړم تر څو لاوضعه شي.

عاقله: که چیرته به د کومې قبیلې یو نفر د کومې بلې قبیلې یو نفر په خطا سره قتل کړو نو د مقتول ورثاوو ته به یې دیت (سل اوښان یا لس زره درهمه یا زر دیناره او یا هم د دې مساوي قیمت وو) ورکول کېدلو

کوم به چې یواځې قاتل نه بلکه ټولې قبیلې به هغه په شریکه ور کولو په دې توګه به دیو شخص خطر (Risk) په ټوله قبیله ویشل کیدلو کوم به چې هر شخص په آسانه ادا کولی شو. او که نه بغیر ددې څخه یو کس ته د سلو اوښانو او یا د هغې مساوي قیمت ادا کول که ناممکنه نه وې خو البته ډیره مشکله ضرور ده. د خطر د کمیدلو دا طریقه د نبی کریم (ص) په دور کې هم وه او دا طریقه به یې ستایله او خوښوله هم بلکه د بعضې روایاتو په اساس نبي کریم (ص) هم په خپل ژوند کې د خپلې قبیلې له طرفه د عاقلې د طریقې له مخې دیت ادا کړی وو .

ضمان خطر الطریق: داهم د خطراتو (Risks) د کمولو او یو بل ته د منتقلولو یو طریقه وه په کومه کې به چې په عامه توګه سوداګرو ته د تجارتي توکو په خوندي لار د ورلو ضمانت ور کول کیده. که چیرته به په لاره کې سوداګر د کوم مالي زیان سره مخ شو نو مسؤلیت به یې د ضمانت اخیستونکي (Guarantor) په غاړه وو. د خطراتو د کمیدلو دا طریقه هم په اسلام کې روا پریښودل شوه. په نني دور کې د سفر بیمه (Travelling Insurance) د ضمان خطر الطریق بنه مثال دی. اګر که ددې عملي شکل د شرعي اعتباره درست نه دی. د بنو اشعر د قبیلې عمل: د بنو اشعر د قبیلې په هکله په روایتونو کې راځي چې د قحط سالۍ خصوصاً د جهاد په موقع به ددې قبیلې هر یو شخص خپل سامان په څادرونو کې واچولو ټول به یې سره یوځای (Mix) کړو او د خاص لوښي په واسطه به یې د قبیلې په ټولو اشخاصو د مساویتوب پر اساس وویشلو.

په روایاتو کې راځي چې نبی کریم (ص) د بنو اشعر د قبیلې دا عمل خوښولو او فرمایل به یې چې (انا منهم وهم منی)

ترجمه: "زه د دوي څخه یم او هغوی زما څخه دي" په دې طریقې سره به هغوې له لوږې ورپښنه خطره کموله.

همدارنګه په قرآن مجید کې هم د خطر مدیریت (Risk Management) په حوالې سره ګڼ شمیر مثالونه وجود لري. د بیلګې په ډول د څان ژغورلو په خاطر او په سخت خطري حالت کې په لنډمهالي ډول د کفر د کلمې ویل چې زړه کې ایمان کلک او مستحکم وساتي د خطر د مدیریت غوره مثال دی او فقهي علماوو دا د حالت اکراه سره تشبیه کړې دی. لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي (مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ) (سوره النحل: آیه ۱۰۶) ترجمه: (چا چې د ایمان راوړلو وروسته د الله سره کفر وکړو په هغه باندې د الله تعالی غضب او د هغه لپاره لوی عذاب دی مګر په چا چې جبر وشو او زړه یې پر ایمان مطمئن وو په هغه هیڅ وبره نشته. (پورته آیت د حضرت عمار بن یاسر (رضی الله تعالی عنه) په حق کې نازل شوی کله چې مشرکینو هغه د کفر د کلمې په ویلو مجبور کړو او هغه (عمار بن یاسر (په ژبه د کفر کلمه وویله کله چې د نبی کریم (ص) په حضور کې حاضر شو او ټوله واقعه یې ورته واوروله نو نبی کریم (ص) ترې

وپوښتل چې زړه دې په کوم حال کې وو؟ عمار بن یاسر ځواب ورکړو "زړه مې بالکل مطمئن وو" نو نبی کریم (ص) وفرمایل که هغوی (کفار) چیرته داسې وکړي نو تاسې (مسلمانانو) ته پکار دی چې همداسې وکړی یعنې زړه مو باید چې په ایمان مطمئن وي.

همدارنګه د جنګ په میدان کې د خپل ځان د ژغورلو په خاطر دویرې لمونځ ادا کول هم د خطر د مدیریت (Risk Management) بنه مثال دی لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي "او چې اوسې ته (ای محمده) په دوی کې (د دښمنانو دویرې په وخت کې) پس اقامت وکړئ ته دوي ته د لمانځه (نو لښکر دوه ډلې کړه) پس ودې دریږي یوه ډله د دوي څخه له تاسره او وادې خلی دا (لمونځ کونکي) وسلې خپلې نو کله چې سجده وکړه (د دوه رکعاتو په اول رکعات کې او د دریو او څلورو رکعاتو په دوهم رکعات کې) پس شې دي دوی ورروسته ستاسي او رادې شي بله ډله چې لمونځ یې نه وي ادا کړی پس لمونځ دې وکړي دوی له تاسره او وادې خلي دوی هم اسباب د بیداری خپل کافران غواړي چې څنګه تاسې غافله شئ د خپلو اسلحو او سامانونو څخه چې هغوی په تاسې باندې یو دم حمله وکړي او نشته هیڅ ګناه پر تاسې باندې که چیرته وې په تاسې باندې ضرر له بارانه یاوئ تاسې ناجوړه چې کیږدی تاسې وسلې خپلې او ونیسئ (په هر حال کې اسباب) د بیداری خپلې (د خپل ځان د مدافع له دښمنه) بې شکه الله تیار کړی دی عذاب سپکونکی د کافرانو لپاره" (سوره النسا ایه ۱۰۲)

په پورته ذکر شوي ایات مبارک کې مسلمانانو ته د ویرې د لمانځه (صلوت الخوف) اجازت څه بلکې حکم ورکړل شوی دی او دویرې لمونځ هغه وخت ادا کیږي کله چې د مسلمانانو لښکر د کفارو سره په جنګ کې بوخت وي او دیوې لمحې بې پروایي مسلمانان دلوی خطر سره مخ کولی شي. دویرې د لمانځه لپاره مختلف صورتونه بیان شوې دي د بیلګې په ډول لښکر دې په دوه ډلو وویشل شي د کومې څخه به چې یوه ډله د دښمن سره د مقابلې لپاره ودریږي تر څو دښمن د حملې کولو جرئت ونکړي. او بله ډله به د امام ورروسته لمونځ ادا کړي او کله چې لمونځ کونکي ډله د لمانځه ادا کولو څخه فارغه شي نو هغه به د اولې ډلې پر ځای ودریږي او هغوی ته به د لمانځه موقع ورکړي په همدې شکل به د لمونځ تکمیل وشي. د اسلام مبارک دین دویرې په لمانځه کې هم د خطر پر اداره کولو رنا اچولې ده.

په قرآن مجید کې د حضرت یوسف (علیه السلام) د تعبیر پیښه هم د خطر د مدیریت بنه مثال دی چې هغوی (یوسف) (په راتلونکي کې د خطر د پرده پوښې (Cover) لپاره د غلې دانې د ذخیره کولو تدبیر وراندي کړی وو. الله تعالی فرمایي "ووېل (یوسف ع) چې کړئ به تاسې (هر قسم فصل) اووه کاله پرله پسې په ډیر زیار سره نو هر هغه چې وریبل تاسې نو پریږدئ هغه غله په کندو کانو خپلو کې مګر لږ غوندي له هغې چې تاسې یې خورئ) هو همغومره قدر ترې پاک کړئ) بیا به راشي ورروسته له دغو (اووه کلونو ودانو) اووه نور (کلونه) سخت چې وبه

خوري (اهل د دې اوو سختو کلونو) هغه غلې چې پخوا ذخیره کړې وي تاسي لپاره د دې مګر لږ غوندي له هغه چې تاسي ساتئ (تخم ته). بیا به راشي وروسته له دی (کلونو د قحط) یو کال (چې پنځلسم به وي) چې په هغې کې به فریاد رسی وکړی شي د خلکو (په غلو اوبارانونو) کې)" سورت یوسف.)

د سورت یوسف په دې آیتونو کې له فکر وروسته دا جوتیږي چې حضرت یوسف (علیه السلام) ته چونکه الله تعالی د تعبیر علم وربخښلی وو نو ځکه هغه پوه شوی وو چې قوم یې په راتلونکې کلونو کې د یو خطر سره مخ کیدونکی دی. نو نه یواځې داچې خپل قوم یې د خطر څخه خبر کړو بلکه هغوی ته یې د دې خطر څخه د ژغورلو لاري چارې هم وروښودلې چې قوم دې په متواتره توګه اووه کاله کَرنه وکړې او کومه غله دانه چې تیاره شي هغه دې وریبې او په کندوګانو کې دې محفوظه کړي تر څو د قحط سالې په وخت کې یې استعمال کړی شي. همدارنګه په سوره کهف کې ذکر شوې د حضرت موسی او حضرت خضر (علیهماالسلام) د کښتۍ په پیښه کې هم د خطر د مدیریت تصور موجود دی .یعنې ددې ورپیښې خطرې د مخنیوي لپاره چې بادشاه به ښایسته او ښه کشتۍ غصبولې حضرت خضر (ع) د مسکینانو کښتۍ عیب داره کړه. ځینو د خطر مدیریت پوهانو د رسول اکرم (ص) د هجرت سفر د خطر د مدیریت بنه مثال بنودلی دی. هغه داسې چې کله کفارو رسول اکرم (ص) محاصره کړو نو رسول کریم (ص) حضرت علی (رض) ته د خپل شین ځادر سره د نبی کریم (ص) په ځاې کې د پریوتلو حکم وکړو تر څو د کفارو توجه د هغه (ص) د ملاستې په ځاې باندې وي او نبی کریم (ص) په آسانی سره وکړی شي چې له کور څخه ووځي نو همداسې وشول او نبی کریم (ص) په ډیري آسانی سره د کوره راووتلو.

همدارنګه د هجرت په موقع د رسول کریم (ص) او حضرت ابوبکر صدیق (رض) مدینې ته سفر او د دې ورځې په غار ثور کې تم کیدل او د شمال د لنډې لارې پر ځاې د یمن اوږدې جنوبې لارې انتخاب هم د خطر د کمولو په موخه وو. ځکه کفارو رسول کریم (ص) ته د رسیدلو لپاره د شمال لار تعقیب کړه چې په نتیجه کې یې د کفارو وخت ضایع شو او رسول کریم (ص) د جنوب له لارې د خپل ملګري ابوبکر صدیق (رض) سره مدینې منورې ته په خیر خیریت سره ورسیدل.

نن په ټوله نړۍ کې د خطر مدیریت د نورو علومو په څیر د یو څانګړي علم په توګه پیژندل کیږي او په مختلفو برخو لکه سفر (Travelling) او داسې نورو ویشل شوی او هر یو یې بیل بیل تشریح شوي دي. د خطر د مدیریت د کاري ساحې د پراخولو او د عامه خلکو د خبرولو او پوهولو په موخه په نړۍ کې مختلف ډوله کورسونه. سیمینارونه دایریږي.

د انجینرۍ، طب او په نورو علومو کې دا دیو لازمي مضمون په حیث تدریسیږي مګر که چیرته په اسلام کې د خطر د مدیریت په هکله د پورته ذکر شوو

معلوماتو په رڼا کې فکر وشي نو واقعاً دا به جوته شي چې اسلام د هر چاوړاندې اول ځل نه فقط د خطر د مدیریت نظریه وړاندې کړي بلکه د هغې حقیقي اهمیت یې هم بیان کړی دی. او هغه یې په عمل کې هم خلکو ته ښودلې دی.

اسلام په عقائدو. عباداتو او معاملاتو کې د خطر په نظر کې نیولو سره په مختلفو وختونو کې د خطر د پوښلو (Cover) حکم کړی دی.

ومن الله توفیق

۸۵ کاله وروسته ایاصوفیا کې د لومړي ځل لپاره قرآن تلاوت شو

له ۸۵ کلونو وروسته. د لومړي ځل لپاره د ترکیې ایاصوفیا موزیم کې یوه ترکي مذهبي مشر قرآن شریف تلاوت کړ. ایاصوفیا لومړی جومات و. خو د ټېرې پېړۍ په ۱۹۲۳ کال موزیم ترې جوړ شو.ایاصوفیا د ترکیې استانبول بنار کې موقعیت لري. چې د نړیوال اسلامي میراث یوه ښکلګه ده.دغه ځای د نژدې زرو کلونو لپاره لویه کلیسا و. بیا د نیمې پېړۍ لپاره جومات او ورپسې موزیم شو. چې هر کال د نړۍ له لرویر نه ګڼ سیلانیان ورځي.په ترکیه کې واک د کمال اتاترک له رسېدا وروسته په ایاصوفیا کې ډېر بدلونونه راغلل. چې لومړي اسلامي نظام پر لادیني هغه بدل کړ او اسلامي خلافت یې لغوه اعلان کړ.

د علي ټیل په نامه یوه ترکي مذهبي مشر د ټېرې جمعې په ورځ "له رسول سره مینه" په نامه د یوه نندارتون د پرانیستلو پرمهال د قرآن شریف یو سورت تلاوت کړ.دغه مذهبي مشر د ترکیې انقرې په یوه جومات کې ملا امام دی.

دغو مراسمو ته د ترکیې د مذهبي چارو د ادارې د مشر محمد ګورمیز په ګډون ګڼ ترکي ځګېړي چارواکي هم ورغلي وو.

د اسلام له پیغمبر سره د مینې په هدف د ایاصوفیا د ننه د اسلامي خط نندارتون به د مې تر ۸ پورې پرانیستی وي.

ایاصوفیا کاتدرایه د بیزنطنیانو (ختیځ روم) د امپراتورۍ پرمهال د شپږمې پېړۍ په اوږدو کې جوړه شوه. چې د قسطنطینیې د بطریرک (پلار سالاري) د اوسېدو ځای هم و(چې بیا وروسته د عثمانیانو له راتګ سره دغه ځای ته استانبول نوم ځوړه شو.(

خو ګله چې په ۱۴۳۵ کال عثمانیان دغه بنار ته ننوتل. دویم سلطان محمد سم لاسي په جومات ددغه ځای د اړولو امر وکړ.

د کاتدرایه ګومبزې ته نژدې د اذان منارې پکې جوړې شوې. خو د خلافت د نظام له رڼګېدا وروسته دغه جومات موزیم شو.

په ۲۰۰۲ کال په ترکیه کې واک ته د عدالت او پراختیا اسلامي ګوند تر رسېدا وروسته. یوځل بیا پر جومات ددغه موزیم د اړولو غوښتنې ډېرې شوې.ایاصوفیا د ترکیې استانبول بنار کې موقعیت لري. چې د نړیوال اسلامي میراث یوه ښکلګه ده .

په ۲۰۱۳ کال د ترکي مرستیال لومړي وزیر دا خبرې په ګڼو بدې ولګېدې. چې ګڼې د موزیم ودانۍ پر جومات اړول ګېږي.

د یونان حکومت د هغه پر خبرو غوسه وښوده او دا یې "میلیونونو مسیحیانو ته سپکاوی" وبلله.

انسان په سختيو کې پيژندل کيږي

رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت خپلو صحابوو ته تلاوت کوي:

(مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً) [البقره: ۲۴۵]

"څوک دی؟ چې الله تعالی ته قرض حسنه ورکړي بیا الله پاک دده دا قرض څوبرابره ورزیات کړي"

ابو دحداح رضی الله عنه راپاځیږي او فرمایي: ای د الله تعالی رسوله! آیا زمونږ پروردګار له مونږ نه د قرض غوښتنه کوي؟!

هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هو» ابو دحداح صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای د الله تعالی رسوله! د دې په مقابل کې ما ته څو چنده برابر اجر راکوي؟!

هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هو" ابو دحداح رضی الله عنه وفرمایل: ای د الله تعالی رسوله لاس دې راوږدکړه! هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «څه خبره ده« ابو دحداح رضی الله عنه وفرمایل: زه یو داسې باغ لرم چې هیڅوک هغه ډول باغ نه لري، زه غواړم هغه الله تعالی ته په قرض ورکړم آیا ته پوهیږي یو باغ په هغه دور کې څه وه؟ یعني یو پارک. باغ د عربانو په نزد ډیر غټ شی وه. د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا صحابي فرمایي: دا باغ الله تعالی ته د قرض په نوم ورلاندې کوم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په جواب کې ورته فرمایي: «ای ابو دحداح رضی الله عنه د دې په مقابل کې به تا ته اوه سوه چنده اجر در کول کیږي"

ابو دحداح رضی الله عنه په داسې حال کې چې الله اکبر! الله اکبر! ایې ویل خپل باغ ته ولاړ هلته یې خپل زوی او میرمن په باغ کې ولیدل. د زوی په لاس کې یې یوه خرما وه هغه یې خوړله.

ابو دحداح رضی الله عنه په ډیرې تیزۍ سره د باغ لور ته ورځي، غواړي چې هر څومره ژر وي باید قرض الله تعالی ته ورو وسپاري، له لرې ځای نه غږ ورکوي: ام دحداح! ام دحداح! له باغ نه ولاړ شئ دامې الله تعالی ته په قرض ورکړی. بښځه دننه په باغ کې وه. هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پلوه روزل شوي وه د جنت غوښتونکي وه. زوی یې چې په خوله کې یې د

خرما دانه نیولې وه او خوړله یې، ام دحداح دهغه له خولې نه دانه راوویسته او وې ویل: کخ کخ، دا باغ د الله تعالی دی. هغه لا تر اوسه په اصل موضوع باندې پوه شوې هم نه وه خاوند یې هم دیته مجبور نه شو چې شپږ اونۍ ورسره کینې او قناعت ورکړي. لکه څنګه چې د نننیو ډیرې بنځو وضعیت همداسې وي خاوند ورسره کینې آیت او حدیث ورته وړاندې کوي، خو بنځه یې بیا هم نه مني.

یوه ورځ چې عمر رضی الله عنه ته ډیر مالونه راغلل، هغه خپل غلام ته غږ وکړ او وې فرمایل: ای ځوانه! دا پیسې واخله او ابوعبیده بن جراح رضی الله عنه ته یې ور وړه، او په کور کې یې لږ وخت انتظار وا وسه تر څو در ته معلوم شي چې څه پرې کوي ؟!

عمر رضی الله عنه غوښتل تر څو معلوم کړي چې ابوعبیده رضی الله عنه په دې پیسو څه کوي. کله چې غلام هلته ورسید وې ویل: دا پیسې امیر المؤمنین در ته رالیږلي او فرمایي په دې سره خپلې اړتیاوې پوره کړه. ابوعبیده رضی الله عنه وویل: الله تعالی دې هغه وساتي او رحمت دې پرې وکړي. الله تعالی دې عمر رضی الله عنه ته غوره بدله ورکړي بیا راپاځید او غږ یې وکړ ای وینځې! راشه دا پیسې د اړو خلکو تر منځ تقسیم کړه، هغې ټولې د فقیرانو او اړو خلکو تر منځ تقسیم کړې تر دې چې ټولې پیسې یې ختمې کړې.

غلام بیرته د عمر رضی الله عنه خوا ته ورغی او عمر رضی الله عنه څلور سوه نورې ورکړې او وې فرمایل: دا معاذ بن جبل رضی الله عنه ته وسه او ګوره چې څه پرې کوي ؟! غلام هغه ته ورغی او په کور کې یې څه موده هم ورسره تیره کړه. معاذ بن جبل رضی الله عنه ولید چې غږ کوي: ای وینځې! راشه دا پیسې په اړو خلکو تقسیم کړه، بیا یې پیل وکړ هغه یې په اړو، نیستمنو او بې وزلو باندې ووېشلې. میرمن یې چې د کور له داخل نه د دې پیښې نندارې کوله. غږ وکړ: په الله تعالی قسم زه هم بې وزله یم. معاذ رضی الله عنه ورته ووېل: دوه درهمه نور پاتې دي، دا ته واخله.

غلام بیرته عمر رضی الله عنه ته راغی عمر رضی الله عنه څلور سوه نورې ورکړې او وې ویل: دا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه ته وسه. حضرت سعد رضی الله عنه هم دې پیسو سره همداسې کار وکړ لکه نورو مخکینیو ملګرو یې چې وکړ. غلام بیا عمر رضی الله عنه ته راغی. عمر وژړل او وې ویل: الحمدلله، دوی ټول ورونه دي چې ځینې یې د ځینو نورو په څیر دي د ټولو روزنه، سرچینه او معدن یو دی او ورسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات نه بدل شوي نه دي. دا طلحه بن عبدالله رضی الله عنه دی یو ځل په یوه معامله کې سل زره درهمه ګټه تر لاسه کوي، غمژن کیږي، خپلې میرمن ته ورځي، میرمن ترینه پوښتنه کوي: په تا څه شوي ؟! طلحه رضی الله عنه ورته وایي: ډیره شتمني مې تر لاسه کړې ده، ویریږم چې له دې ټولې شتمنۍ سره د الله تعالی مخ کې حاضر نه شم چې دهریوه درهم په اړه رانه پوښتنه ونه کړي. میرمن یې ورته ووېل: ستا دنارا حتي لامل همدا دی؟ هغه ووېل: په الله تعالی قسم د خپل مال په اړه د الله تعالی د ملاقات نه ویریږم. میرمن یې ورته ووېل: د حل لاره ډیره آسانه ده. راشه چې خپل منځ کې یې

تقسیم کړو. بیا یې ویسه او دمدینې د فقراءو ترمنځ یې وویشه .بیاد خپلې میرمن سره کیناست پیسې یې په بټوو کې کیښودې او دبې وزلو، نیستمنو او فقراءو ترمنځ یې تقسیم کړې. کله چې پیر ته راغی ویل یې: ستاینه ده هغه ذات ته چې زه یې داسې وګرځولم چې پاک سوتره له هغه سره ملاقات وکړم.

د دې معنا دا نه ده چې سړی خپل اولاد پر ته له مال نه همداسې نیستمن پریږدي.

عامر بن سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه له خپل پلار نه روایت کوي چې وې فرمایل: دوداع (خدای پامانی) د حج په کال کې سخت ناروغ شوم او رسول الله صلی الله علیه وسلم زما پوښتنې ته راغی . ما ورته وویل: زه سخت ناروغ یم او زه شتمن یم او پر ته د یوې لور نه بل وارث هم نه لرم . آیا د مال له درې برخو نه دوه خیرات کړم ؟هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «نه» ما ووېل :نیمه برخه خیرات کړم؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «نه "یا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «د دریوونه یوه برخه ور کړه او دا هم ډیره زیاته ده، که چیرې ته خپل وارثان شتمن پریږدي داغوره ده له دینه چې تنګ لاسي یې پریږدي خلکو ته یې د سوال پاره لاسونه نیولي وي . ته هیڅ یو خیرات د الله تعالی د رضا پاره نه کوې مګر داچې په مقابل کې یې بدله در کول کیږي. ان تر دې چې کوم خوراک د میرمن په خوله کې ږدې (په هغه هم اجر در کول کیږي)

لیث بن سعد د مصر ستر فقیهاء و څخه دی تل به یې خیرات کولو . کلنی عائدیې څلور سوه زره درهمه وه . خو هیڅکله یې نه پریښود چې زکات یې په مال پورې ونښلي. آیا ته پوهیږې « کلنی عائدیې څلور سوه زره درهمه وه خو هیڅکله یې زکات په مال کې رانغی "یعني څه؟

زین العابدین بن حسین بن علی رحمه الله هره شپه له کور نه وتلو بوره. وریږې او نور خوراکونه به یې د بې وزلو خلکو کره کیښودل او بیر ته به راتلو. خلک له دې کار سره عادت شوي وه ویل به یې: نه پوهیږو چې څوک زمونږ په کورونو کې خوراکونه ږدي . کله چې زین العابدین وفات شو د دوی په کورونو کې نور خوراکي شیان کیښودل بند شول، په دې سره پوه شول چې دا کار خو زین العابدین کولو . کله چې خلکو وغوښتل هغه ته غسل ور کړي ګوري چې څټ سره یې ژور زخم دی او داله دې امله چې بې اندازې خوراکونه به یې په اوږو باندې د بې وزلو کره وړل..

ته چیرته یې او هغوی چیرته وه؟! آیا ته به هم خیرات ور کړې؟ او که به همداسې بخیل پاتې شې ؟

ای خواتانو ! ای کوچنیانو ! ای مشرانو ! ای بښځو ! او ای شتمنو ټول انفاق وکړئ، د مالونو څه برخه مو د الله تعالی په لاره کې ور کړئ. نیستمنو، بې وزلو او اړو خلکو ته صدقه ور کړئ.

عبدالله بن عمر رضی الله عنه به له دې ایت (لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ) (ال عمران: ۹۲)

" تاسې هیڅکله بشپړه نیکي نه شئ تر لاسه کولای تر څو مو د خپلې خوښې مال خیرات کړی نه وي "ډیره مینه کوله . ته پوهیږې چې څه به یې کول ؟هغو شیانو پسې به تلو چې ډیر به یې خوښول هغه به یې د

الله تعالی په لاره کې خیر اتولو. یو ځل په یوه اوښه باندې سپور وه، دا اوښه یې خوښه شوه، له هغې نه راښکته شو په نیمه لاره کې یوه څنګ ته اودرید، او د دې په انتظار وه چې یو کمزوری پیاده کس راشي تر څو دا اوښه هغه ته ور کړي، تر دې چې یو سپین ږیری کس راورسید، هغه ته یې وویل: ای وروره ! په دې سپور شه دا ستا مال دی.

نافع وایي: ابن عمر رضی الله عنه ناروغ شو، زړه یې انګورو ته وشو، کله چې انګور بازار ته راورسیدل ښځې یې یو کس د یوه درهم سره بازار ته ولیږه تر څو هغه ته یو واښکی انګور راوړي. په دې کس پسې یو سوالګر روان شو. کله چې کور ته بیر ته راغی وې ویل: خیر ګر دی ! خیر ګر ! ابن عمر رضی الله عنه وفرمایل: دا واښکی هغه ته ور کړئ. ښځې یې یو بل درهم ور کړ. بیا هماغه سوالګر ورپسې شو کله چې هغه کس کور ته راغی، وې ویل خیر ګر دی! خیر ګر! ابن عمر رضی الله عنه وفرمایل: هغه ته یې ور کړئ. دا واښکی یې هم هغه ته ور کړ، صفیه (رضی الله عنها) هغه خیر ګر ته خبر ولیږه چې قسم په الله تعالی که دا ځل بیا راغلې هیڅ ګټه به زما له پلوه درونه رسیږي . بیا یې یو بل درهم ور کړ په هغه یې یو واښکی انګور واخیسته.

خورې سوچ وکړه ! کله چې ته خپل بچي ته څه خواړه ور کوې، هغه ته وایې: فکر کوه چې په مکتب کې یې درسره ماشومان ونه وینې پټ یې وخوره، تل ور ته نصیحت کوې: ځان ته دې فکر کوه هم صنفیان دې درنه څه وانخلي . همدا ډول نورې خبرې.....

ورونو داسې نه ده ! کله چې خپل بچیان روزئ د ایثار (قربانۍ) مینه پکې پیدا کړئ. منه راوړه څلور ټوټې یې کړه ور ته ووایه: بچیه ! یوه ټوټه پخپله وخوره او نورې ملګرو ته ور کړه، اسلام دغسې وي.

علي رضی الله عنه فرمایي: زید بن حارثه رضی الله عنه مکې ته ولاړ د حمزه رضی الله عنه لور یې ځان سره راوړه، جعفر رضی الله عنه وویل: زه یې اخلم، زه یې د سرپرستۍ وړیم، ځکه دا نجلۍ زما وریره ده، خاله یې زما ښځه ده او خاله هم د مور په ځای وي . علي رضی الله عنه وفرمایل: زه یې د سرپرستۍ وړیم، ځکه زما وریره ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور زما میرمن ده ډیره د دې وړ ده چې له هغې سره واوسیږي . زید رضی الله عنه وفرمایل: زه یې د سرپرستۍ وړیم، ځکه زه ولاړم سفر مې وکړ او هغه مې راوړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم راوووت په موضوع پوه شو وې فرمایل: نجلۍ به د جعفر رضی الله عنه په سرپرستۍ کې وي تر څو یې له خاله سره واوسي، ځکه خاله د مور په ځای وي.» [ابوداؤد]

ګورئ د رسول الله صلی الله علیه وسلم درې صحابه څنګه یو بل سره مسابقه کوي، چې کوم یو په دوی کې د دې نجلۍ سرپرستي په غاړه واخلي. او دا درې کسان هم یو له بل نه ډیر نیستمن دي، دا په داسې حال کې چې ستا ورور مړ شوی او ستا وراره بې سرپرسته دی او ته یې مسؤلیت په غاړه نه اخلې اهمیت نه ور کوې! مور دې سپین سرې او بې وسه ده ته خواړه ور ته نه برابروې، ته او ستا ورونه هغې ته نه ګورئ! کوم یو به یې په تاسې کې خپل ځان سره کور

ته بوځي، په مقابل کې مو، میرمني وایي: همداد خپلو بچیو روزنه بس ده.

ستابخل تر دې ځایه رسیدلی، هغه هم له چا سره؟ له خپلې مور سره چې ته یې راغټ کړې او ستاپلاره یې کړ اوونه تیر کړل او داسې نورې رنګارنګ سختیانې یې تیرې کړې.

ورونو! مونږ په داسې دور کې شپې تیروو چې دنیاله فقر، نیستی، اوبې وزلې څخه ډکه ده، له دې سره سره مونږ ور ته اهمیت نه ور کوو حرکت نه کوو؟! هغه مسلمان چې د مسلمانانو چارو ته اهمیت ور کوي له دې وضعیت نه یې زړه په لړزان دی.

پوه شه چې بنکلې صدقه داده چې د بنکاره او پټې تر منځ تعادل وساتې. ګومان مه کوه چې الله تعالی یوازې پټه صدقه قبلوي او بس. الله تعالی فرمایي:)الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ) [البقرة: ۲۷۴]

"هغو کسانو ته چې خپل مالونه شپه او ورځ پټ او بنکاره د الله تعالی په لاره کې مصرفوي دهغوی د رب په وړاندې پوره اجر او ثواب دی. نه به په پرې ډار وي او نه به غمژن کیږي"

په بنکاره باندې خیرات ور کول هم مطلوب دي تر څو خلک تحریک شي او د تقلید روح پکې را اوچت شي، خو ولې په پټه خیرات ور کول د الله تعالی په وړاندې ډیر غوره دي، ولې؟ ځکه له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل»: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ : الإِمَامُ الْعَادِلُ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ، وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ، وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ، اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ، وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ أَخْفَى حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ» [رواه البخاري]

"اوه کسان دي چې الله تعالی به یې په ورځ د قیامت خپل سیوري لاندې اودروي. هغه ورځ چې پر ته دهغه د رحمت د سیوري نه به بل سیوری نه وي.

عادل بادشاه، هغه ځوان چې د خپل پرور دګار په عبادت کې رالوی شوی، هغه کس چې زړه یې د جومات سره تړلی وي، دوه هغه کسان چې خپل منځ کې د الله جل جلاله د رضا لپاره سره یو ځای کیږي او د الله جل جلاله په خاطر یو بل نه جدا کیږي، او هغه کس چې د بنائست او منصب والا بڼځه یې ځان ته د زنا لپاره وغواړي او هغه ور ته ووایي چې زه د الله جل جلاله نه ویریږم، او هغه کس چې صدقه دومره پټه ور کوي چې چپ لاس یې پرې نه پوهیږي چې بنې لاس یې څه صدقه کړل او هغه کس چې ځانته ځای کې الله جل جلاله یادوي او ستر ګونه یې اوبنکې بهیږي" کوم کس له مونږ نه خوشحاله نه دی چې په ورځ د قیامت به د الله تعالی د عرش د سیوري لاندې اودریږي؟!

(د "هدایت" له کتاب څخه)

د شهید مولوي حکمت الله شاکر صاحب

ژوند ته لنډه کتنه

حافظ سعید

د توري او قلم څښتن شهید مولوي حکمت الله شاکر صاحب دحاجي فضل محمد اکازوی، په ۱۳۶۰هش، کال د کندهار ولایت دپنجوایې ولسوالۍ دناخوني په کلي کي دې فاني نړۍ ته سترګي پرانیستلې دي.

تعلیم اوزده کړه یې :

پر افغانستان دسرو لښکرو دیرغل له امله دنورو هیوادوالو په څېر دشهید مولوي حکمت الله صاحب کورنۍ هم پاکستان ته هجرت وکړ اودبلوچستان ایالت دپنجپایې دافغان مهاجرو په پنډغالي کي یې دهجرت ژوند پیل کړ. شهید مولوي حکمت الله صاحب خپلي لومړنۍ زده کړي دپنجپایې دمهاجرو په کمپ کي شروع کړې اودخپل مشر ورور مولوي صلاح الدین صاحب تر سپرستۍ لاندي یې په مختلفومدرسو کي له بیلابیلواستادانو څخه علمي اوروحاني فیض حاصل کړ.

داسلامي انقلاب تر بریالیتوب وروسته دشهید مولوي صاحب کورنۍ خپل وطن ته کوچ وکړ اوپه ډیر تاسف سره لکه څنګه چي لوستونکي خبر دي جاه طلبومجاهدینو دچوکۍ پر سر خپل منځي جګړې پیل کړې او دکونډو، یتیمانواوټول افغان ولس سپېڅلي ارمانونه اوامیدونه یې له خاورو سره خاوري کړل، وروسته چي کله دټوپکسالارانواوپاټکسالارانو پر ضد دطالبانواسلامي غورځنګ په کندهار کي راپورته شو، افغان مظلوم ولس داسلامي تحریک څخه ځاني اومالي ملاتړ اعلان کړ اوهر اړخیزي مرستي یې ورسره وکړې. دخلګو ددې پراخي همکارۍ اودتحریک دمشر تابه داخلاص په برکت څښتن تعالی په لنډ وخت کي دګران هیواد څخه دشر اوفساد کرغیړن ټغر ټول کړ اوپر ۹۵ فیصده خاوره شرعي اوملي نظام حاکم شو.

اسلامي امارت په هيواد کي دعدالت اوامنيت د تطبيق او تامين څخه وروسته د تعليم پر مختګ اووسعت ته پام زيات توجه وکړه اودهيواد په لر اوبر کي پي په سلهاوو ديني مدرسې جوړې کړې چې بنه کافي امکانات يې ورته برابر کړي وو، شهيد شاکر صاحب هماغه مهال د کندهار ولايت په بيلابيلو مدرسو کي د ديني تعليمي مروج نصاب دفنونو څخه فارغ شو، پر افغانستان د صليبيو پر غل څخه وروسته شهيد شاکر صاحب د بلوچستان ايالت په کوټه ښار کي د مولوي عبدالرؤف صاحب سره وړه دوه وکړه اودچمن په سرحدي ښار کوټې کي يې د شيخ الحديث والتفسير مولوي محمد علي (رح) سره د مبارکو احاديثو لويه دوره وکړه اود فضيلت دستار يې پر سر کړ.

خضوع ،اخلاق او تقوى يې :

شهيد مولوي حکمت الله تقبله الله ډير خاکسار انسان و، هيڅکله يې خپل ځان پر نورو خلکو کې څه هم کمزوري کسان به وو، غوره نه ګانه، د ملګرو سره يې په ډير ورين تندي خبرې کولې او کله ناکله به يې مباح ټوکې ټکالي هم ورسره د بدرګه کولې، د جماعت د لمانځه ډيره پابندي يې کوله اود تهجد او اشراق لمونځ يې په اهتمام سره اداء کاوه، په قول او عمل کي يې يووالی موجود وو، کومه خبره چې به يې کوله په عملي ډګر کي يې په هغې خبرې پوره عمل کاوه. دغيبت د مهلکې اوساري ناروغۍ څخه چې په ډير تاسف سره په حاضر وخت کي عوام اوحتى ځيني خواص په مبتلا دي، يوازينی شخص چې ما (د دې کربنو ليکوال) ملګرتيا ورسره کړې ده، هغه شهيد مولوي صاحب وُ چې تر ډيره زياته حده له همدې ناروغۍ څخه په امن اومحفوظ و، شهيد مولوي صاحب نه يوازې داچې خپله غيبت نه کاوه، بلکې نور خلک يې هم د غيبت څخه منع کول.

شهيد مولوي صاحب به د خپلو ورونو، ملګرو او هيوادوالو سره د روحاني امراضو څخه د ځان ساتني او علاج خو راپه زړه پوري نسخې وراندې کولې، د غيبت ،دروغو، تکبر، عجب، بخل اوبد ګومانۍ د ديني اواخروي زيانونه به يې د عقل اونقل په رڼا کي تشريح کول. شهيد مولوي صاحب که څه هم د عمر په لحاظ کشر وُ، خو خشيت او تقوى يې دومره ډيره وه چې سپين ږيرو استادانو به يې د بنه اخلاق، عاجزي اوپرهيزګاري په مجالسو کي د مثال په توګه ذکر کوله.

لساني او قلمي جهاد يې :

شهيد مولوي صاحب د بشريت دلار ښود اوناجي حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم د هغه مبارک حديث چې فرمايي :(ان المؤمن يجاهد بسيفه ولسانه) په عملي کولو سره دوسله وال جهاد تر څنګ لساني اوقلمي جهاد هم کاوه، نومورې به په عامو اوخصوصي مجالسو کي د جهاد د فرضيت او فضيلت په اړه بيانونه اوبحثونه کول، مجاهدين به يې ستايل او د ستر ځښتن له خوا دور سره شوو ژمنو يادونه به يې کوله، خو ورسره به يې مجاهدين د اختلاف ،خيانت، نه اطاعت، بد ګومانۍ او نورو ناوړه اعمالو له دنيوي زيانونو او اخروي وعيدونه څخه هم خبرول.

شهيد مولوي حکمت الله شاکر صاحب د «مرغوب المجاهدين» په نوم کتاب تأليف کړ، په يادشوي

کتاب کې د جهاد فرضیت، د امیر اطاعت او د جهاد اړونده مختلف مسایل او فضایل د قرآن شریف، مبارکو احادیثو، نبوي اصحابو، مجتهدینو او سلفو صالحینو د اقوالو په رڼا کې تشریح شوي دي. شهید شاکر صاحب همدغه کتاب یوه ملګري ته سپارلی ؤ، اوله هغه څخه د جهادي اضطراري حالاتو له امله نادر کسه شوی و، په دې وروستیو کې مرغوب المجاهدین د شهید مؤلف وروړ مفتي احسان الله مظهري صاحب ترلاسه کړ او دنیکه مرغه سره کال همدغه کتاب (موغوب المجاهدین) د چاپ په ګټه وپسولل شو او دلوستونکو استفادې ته وړاندې شو.

فزیکي جهادي خدمت او شهادت یې :

شهید مولوي حکمت الله شاکر صاحب د صلیبي پرغلګرو او د هغوی د ګوډاګیانو پر ضد د زابل او کندهار ولایت په مختلفو سیمو کې جهادي خدمتونه ترسره کړي دي . د جهاد په لومړیو کې دوه واره زابل ولایت ته ولاړ او هلته یې د جهاد فریضه ادا کړه، شهید مولوي صاحب د کندهار ولایت په مختلفو سیمو کې جهادي خدمت ترسره کړی دی، نومورې د ژړی ولسوالی په پاشمول کلي کې سخت ټپي شو، ترعلاج او جوړیدو وروسته بیرته په خپره لیوالتیا سره د جګړې لومړۍ کرښې ته ستون شو.

د ۲۰۰۸ میلادي کال د اګست په میاشت کې وحشي اشغالګرو او د اخلي مزدورانو یې د ژړی ولسوالی د پاشمول پر سیمه دلویو عملیاتو اعلان وکړ، خو کله چې پرغلګرو ځواکونو او د اخلي لاسپوڅو یې دهوایي اومځکنیو قواوو په توسط پر پاشمول حمله وکړه ،د قهرمانو مجاهدینو دسخت مقاومت سره مخامخ شول، مجاهدینو پر خارجي او د خلي دښمنانو د خړپ او ترپ بې شپېره بریدونه ترسره کړل او دمایندونو په انفجار اتو سره یې ډیري کاناډایي او امریکایي مندي بوري کړې، پرغلګرو د زیاتو مالي اوځاني زیانونو په لیدلو سره پر پاشمول او ورڅېر مه سیمو باندې داسي وحشیانه بمباري پیل کړې چې له امله یې د مجاهدینو تر څنګ ولسي خلګو ته هم دسر زیان واوښت اوهم یې حیواناتو اونباتاتو ته درانه تاوانونه ورسیدل.

په دې جګړه کې لکه مخکې چې اشاره ورته شوه څوشاه زلمیو مجاهدینو دخپل رب سره کړې ژمنه پوره کړه او خپل سرونه یې دهغه لایزال ذات جل جلاله د رضاء په موخه نذرانه کړل. هو! دهمدې نیکمرغو له جملې څخه یوهم شهید مولوي حکمت الله شاکر صاحب ؤ، چې د ۲۰۰۸ میلادي د اګست په ۲۰مه مطابق ۱۴۲۹ هق، د برات په ۱۹مه نیټه یې داجل داعي ته لبیک ووایه او زمور د اسمان له مدار څخه د شهاب ثاقب غوندې د شیطانانو پر ټولې راولوید. انالله وانا الیه راجعون !.

په یاده شوې جګړه کې د پرغلګرو ځواکونو دانتهایي وحشت او بربریت له کبله مجاهدینو د پاشمول څخه عقب نشیني وکړه، د شهید شاکر صاحب جسد څو روځي هلته پاته شو، وروسته بیا خپل کلي (ناخوني) ته انتقال او هلته دفن شو.

روح یې شاد او یاد یې تازه

داتل شهید مولوی اختر محمد

لنډ ژوندلیک

بیشکه د اسلامي او افغاني تاریخ په پانوکې دډېرو اتلانو کیسې او کارنامې خوندي دي، دکومو لوستل چې دسړي ایماني ولولې اوجذبې په جوش راولي او د پیړیو پیړۍ تېریدو وروسته هم دهغوی حماسي ژوندی اوکارنامې یې تازه پاته دي ولسونه اوقومونه پرې ویاړي.

هو ! دتاریخ دغسي ځلېدلي ستوري که هرڅو د جعرافیې یا سیمې له پلوه کوم خاص هېواد ،قوم یا کومې سیمې ته منسوب دي،خو پرویاړلو کارنامو یې ټول ویاړي ، چې دهمد غسي اتلانو اوقهرمانانو له ډلې څخه یو ځوان عالم ،لیکوال، شاعر،او مجاهد شهید مولانا اختر محمدزاهد (رحمه الله) هم و.

هاغه اختر... چې د کوچني اختر په شپه دې نېمګړې نړۍ ته راغلی و او بېرته هم دکوچني اختر په شپه لاړ.

مفتون صیب دشهادت په ویر کې یې څومره ښه ویلي:

روژه مې په خوله پاتې شوه کوثر دې رانه واخیست.دا

څرنګه اختروې چې اختر دې رانه واخیست اختره زمونږ هېلې دې کړې خورو سره خاورې.سینه دې کړه راماته دزړه سر دې رانه واخیست

ریوبه !ښاېسته یې خوبس ماته کنعان ښکارې.یوسف دې رانه ویوړو نظر دې رانه واخیست اوتر اوتر مې څکه دنظر بوراګان ګرځي.خزانه !ها دګل په شان بشر دې رانه

واخیست وطن دې رابدرنګ کړ؛ شې خزان غربي خزانه! چنار دې رانه واخیست او نښتردې رانه واخیست ظالمه !معاف کېدل دې په یوه صورت هم نشته ـ چې ډک و له فکرونو هغه سر دې رانه واخیست زړګی مې درته ځکه سوې سوې ښېرې کاندې ـ بېتلونه دزاهد غوندې دلبر دې رانه واخیست لا نور به څه ترخه راوړې (مفتون) ته انقلابه ـ چې باز ددنګو غرونو دسپین غر دې رانه واخیست زوکړه یې:

دپوهې اوکمال دغه ځلیدونکی ستوری دغوایي کمونستي کودتانه یوکال وروسته په ۱۳۹۸هـ ق کال دکوچني اختر په مبارکه شپه چې د ۱۳۵۸ ل کال د پېنځمې میاشتې دلسمې نېټې سره سمون خوري ، دپکتیا ولایت ،اریوب ځاځیو دښېرازې ولسوالۍ هاشم خېلو د ملافاتح په کلي کې دحاجي سلطان محمد کره راختلی و ،دهجرت ټاټوبه یې:

هغه مهال چې دافغانستان په سپېځلې خاوره دروسي وحشي لښکرو ظالمانه یرغلوشو ، اوپرضد یې دافغان مجاهدولس لخوا په کلک عزم جهاد پیل شو. او له هېواده دهجرت دیار(پاکستان) په لور دهجرتونو قافلې و کوچېدې داخترمحمد دغه مهال کوچنی و ، دهغه کورنۍ هم دنورو مهاجرو کورنیو سره یوځای د خیبر پښتونخوا ایالت دټل خپیانګې پنډغالي ته لاړه، اخترمحمد دخپل کوچنیوالې زمانه په همدې پنډ غالي کې تیره کړه. طبعیت یې له نورو ماشومانو نه ډېر بدل و ، دبې ځایه ګرځیدو او عبثو کارونو سره یې نه وه جوړه او په ټنډه کې یې له ورایه دزیرکتیا او ذهانت نښې پېژندل کېده.

زده کړې یې:

لومړۍ زده کړې یې دخپل تره معلم حاجي خبرمحمد نه پېل کړې ، په شېږ کلنۍ کې دابتدایي زده کړو بشپړولو په موخه دخپیانګې په ښونځي کې شامل کړای شو ،هلته ترشپږم ټولګي زده کړو کولو دولس کلن و چې د نورو زده کړو لپاره له کوره ووت ، دصرف نحوې ،فقهې ،تفسیر، اصول ، عقاید ، کلام ، منطق ،حکمت ،فلسفې، اونورو علومو کتابونه یې په بېلابېلو مدرسو کې (لکه: ټل ،پکتیا ، خوست ،ننګرهار ،پېښور ، صوابۍ کوهاټ اوزرګري)کې ولوستل ددې ترڅنګ یې عصري علوم (ساینس، حغرافیه ،فزیک ،ریاضي ،اجتماعیات ،تاریخ ،پښتو...) هم دمختلفو مسلکي استاذانونه ویلي. دفنونو وروسته د حدیثو وړه دوره او بیا لویه دوره یې د ټل په دارالعلوم العربیه کې ولوستې. دلویې دورې استاد یې شیخ الحدیث

مولانا معزالحق رحمه الله و او د هم هغه په لاس ورته دفضیلت پګړۍ ورپه سرشوه.

مشهور استاذان یې:

مولانا سید قریش بابا رح، مولانا معزالحق رح، مولانا فضل الرحمن پکتیاوال رح، قاضي محمد امین مدظله ،دکتور مولانا ګل الرحمن حقاني مدظله ،مفتي محمد سردار مدظله ،مولانا نور سعید سعید ،مدظله او د مولانا محمد زاهد عزیز خیل مدظله نومونه دیادولو وړدي.

مفسر او شیخ الحدیث مولانا ګل الرحمن حقاني المدني دنوموړي په اړه وایي: مولانا اختر محمد زاهد زما په ټولو شاګردانو کې یو حساس او هوښیار شاګردو ، چې دعلم ترڅنګ دسیاست او اجتماعي صفاتو نه هم برخمن و ، ما تري دزیاتو دیني اوملي خدمتونو هیلې درلودې ،خو الله تعالی ته دا خوښه وه چې دبصیرت ،تقوا ،عرفان او کمال دغه ستوری یې دفاني دنیا نه ابدي دنیاته ژرو غوښت تدریس یې:

شهید اختر محمد رحمه الله دعلومونه دفراغت په اول کال(۲۰۰۲ز) دټل ټنډورو په مفتاح القرآن مدرسه کې د پنځمې درجې کتابونه تدریس کړل ،ورپسې درې کاله یې دټل په عمریه مدرسه او داریوب ځاځیو کوټکي په جامعه خالدبن ولید کې او دملافاتح کلي په جامعه سراج العلوم او دکرم ایجنسۍ په مدرسو کې یې تروړې دورې کتابونه تدریس کړل

وموړي په علمي او جهادي مفکوره دمدرسو او لېسو شاګرادنو ګډې روزنې ته ډېر ارزښت ورکاو او شپه ورځ په دې هڅه او هاند کې وه ،چې داسې کسانو تربیه شي چې هغوی دعصري او دیني دواړو علومو نه خبروي، په دې وجه دنوموړي شاګردان نه یوازې ښه تکړه طالبان یا عالمان دي، بلکې فعال مجاهدین هم دي، دتدریس سربیره دټل په ټنډرو سېمه کې د خپلو شاګردانو او ملګرو په مرسته د مفتاح القرآن په نامه مدرسه هم جوړه کړه، کومه چې څلور خونې او یوه د حفظ درسګاه لري. دیادونې وړده، چې داکار نوموړي هغه مهال کړی و چې کله خپله دشرح جامي طالب و، د سهارله خوا به یې دټل په دارالعلوم کې سبق وایه او دماسپښین د تکرارنه به چې فارغ شو د اشاګردانو اوملګرو یوځای به یې ختې کولې.

او دا هغه مدرسه ده چې د ۱۴۳۵هق دمحرم میاشتې په ۱۳مه دامریکایانو لخوا ورباندې د څلورو ډرون توغندیو برید وشو او پکې یې مولوي احمد جان غزنوي ، مولوي حمیدالله ،مولوي ګل مرجان ،قاري

عبدالرحمن او قاري نورولي شاه شهيدان کړل په ۲۰۰۳م کې يې دخپلو ملګرو په کومک داريوب ځائيو دکوټکيو په سيمه کې يې دخالد بن وليد په نامه مدرسه ودانه کړه اوپه کې دري خونې يې جوړې کړې، چې دوخت په تيرېدو بيا مولوي سعيد پسې لاپراخه او په عصري اسبابو مجهزه کړه. په ۲۰۰۴م کال کې يې دروکيان ملافاتح دارالايتام په نامه مدرسه چې څوکاله شاړه پرته وه بيرته ورغوله او ورته سراج العلوم نوم يې کيښود.

ديوالي سيمبول:

شهيد اختر محمد رحمه الله چې يو بې ريا خادم او دعلمي ،جهادي او سياسي فکر او عمل نه برخمن ځوان و. ددرس او تدريس ترڅنګ دامريکايي اشغالګرو په مقابل کې دجهاد دګرمو سنګرونو يو زړور مجاهد و، چې هروخت يې پکې ګډون کاو او دمجاهدينو دوحدت او خېرخواهي سيمبول و ، دځائيو له طالبانو نيولې ترولسي خلکو په ټولو مهربان او وربانديې د خپل پوهې او هوښيار اغېزيې کينولی و ،او هروخت به يې د مشرانو علماوو او قومي مخورو له مشورو اوخبرو نه څخه زياته ګټه پورته کوله.

نوموړی دخپلو لوړو حسنه اخلاقو په وجه دځائيو څلورو ولسوالیو طالبانو او مجاهدينو په زړونو کې يې داحترام ځای درلود ،ټول طالبان او مجاهدين ور باندې راټول وو او هر يو ه يې په ورين تندي خبره منله.

کوم څه به يې چې په خوله وهغه يې په زړه او عمل کې هم وو لکه پخپله شاعرانه ژبه وايي:

اتحاد لره قايل حاکم قرآن دی ـ اعتصام بحبل الله عظيم بيان دی ځانځاني لوی هلاکت او ورکيدل دي. اتحاد باندې قايم زمين اسمان دی دګبين مچيو جوړ چې اتحاد کړ. قدر وړ يې په هرځای کې لوی کاروان دی اتحاد ځينې اغيار واړه لرځېږي ـ اتفاق ته روعب ورکړی پاک سبحان دی متفق اشخاص که لږ وي ترې خطروي ـ په نفاق باندې هر فرد ورک له ميدان دی اتحاد کې مشر کشر تعظيم کېږي. ځانځاني والە ذليل ګډ په نيران دی دخپل مشر اطاعت هم بيا واجب دی. دنبي (ص) په احاديثو کې عيان دی مسلمانو ! اتحاد باندې ملبوس شئ. داختر محمد په زړه دغه ارمان دی څرنګه چې مولوي صهب دمقدس دين په نورو برخو (درس تدريس ،دعوت تبليغ او دجهادي ډګرونو)کې نومیالی و. هم داسې دظاهري علم ترزده کړې ورسته دباطن تزکيې او اصلاح په لرکې يې دتصوف لار نيولې وه، له مبالغې پرته وايم چې رښتينی زاهد و ، ژبه به يې هروخت دالله

جل جلاله په ذکر لمده وه، شپې به يې تلاوت او تهجد نه پريښودل ،د روژې په وروستۍ لسيزه کې اعتکاف ته کښاسته او ټولې شپې به يې په ،تلاوت ،او عبادت رڼولې. دطالبانو اسلامي تحريک په پېر کې:

که څه هم نوموړي خپل ټول ژوند دالله تعالی په ذکر عبادت ،درس تدريس ، افتاء او دکتابونو په ليکلو کې تېر کړ، خو په دې سربېره مخلص ديانت لرونکی مجاهد او مبارز و ،څرنګه چې دشهيد کورنۍ. دروسي يرغل پرخلاف دومره مجاهد پاله کورنۍ. وه آن چې خپلو ماشومانو ته يې هم جهادي روزنه ورکړې وه.

اخترمحمد رحمه الله هم د کوچنيوالي څخه له جنګونو سره بلد و او دخپلې کورنۍ. داسلافونه نه ورته جهادي مينه په ميراث رسېدلې وه خاصکر دخپل ګران تره (شهيد بازمحمد) جهادي اوحماسي کيسې يې دکور دهر مشر او کشرنه اوربدلې ، له دې وجې دنوموړي په زړه کې هم جهادي ولولو ځای نيولی و او دتاوده سنګر مېنې يې په وينه کې حلول کړی و ،کوم وخت چې دطالبانو اسلامي تحريک سپېنه جنډه دهېواد په پلازمينه پورته شه دخپل تره دزوی محمد شهيد (چې دی يې دعلم په خواږو پسې بيولی و ، دطالبانو نظامي قوماندان و چې په شيندنډکې دتخنيکي ستونزې له املهدالوتکې پرېوتو په پېښه کې شهيد شو)دزاهد صېب پر شوندو تورخط نه و راغلی چې دشهيد محمدسره به دکابل په جنګي مراکزو او په شمال کې دمسعود او دوستم مفسدو ملېشو مقابل کې سنګرونو ته ورته .

دمبارزې او جهادي تاريخ بله پاڼه يې:

